# د ټولنې علم

د اروانباد استاد الفت د نا چاپ شوي آثارو څخه:

Ketabton.com

مؤلف: زکریا احمد «رشدی»
مترجم: ګل پاچا «الفت»

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مضمونو فهرست


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| د مترجم مقدمه | أ |
| لمړی باب | - 1 - |
| د اجتماع علم | - 1 - |
| د علم اجتماع ماده او موضوع | - 1 - |
| د انسانی اجتماع تاریخ | - 3 - |
| اجتماعی تطور | - 4 - |
| له طبیعی تاریخ سره د ټولنی د علم اړه | - 4 - |
| انسان او معدن | - 5 - |
| انسان او نبات | - 6 - |
| انسان او حیوانیت | - 7 - |
| د اقلیم، اوبو او هوا اغېزه | - 8 - |
| د قوم په روحیاتو کښی | - 8 - |
| عوامل او تاثیرات ئې په انسان کښی | - 8 - |
| معتدل اقلیمونه | - 9 - |
| سړې مځکی | - 9 - |
| تاوده اقلیمونه | - 9 - |
| انسانی ټولنی | - 10 - |
| کورنی ژوندون | - 11 - |
| ازدواج | - 11 - |
| ازدواج او اجتماعی ټولنه | - 12 - |
| د کوزدې کال او وخت | - 12 - |
| د کور سرشته (تدبیر منزل) | - 13 - |
| د انسان سیاست له ښځی سره | - 14 - |
| د انسان سیاست له اولاد سره | - 14 - |
| د انسان سیاست له خپلو خدمتګارانو سره | - 15 - |
| کورنی نیکبختی | - 16 - |
| لمړی تربیه | - 16 - |
| تربیوی مذاهب | - 17 - |
| علم النفس | - 19 - |
| خاطر | - 19 - |
| د عقل د روزلو لاری | - 20 - |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عقل وده او اقسام ........................................................................................ - 20 -
لمړۍ مرتبه........................................................................................................... - 21 -
دوهمه مرتبه ......................................................................................................... - 21 -
دريمه مرتبه ......................................................................................................... - 21 -
څلورمه مرتبه....................................................................................................... - 22 -
د بدن روزل ......................................................................................................... - 22 -
بدنی ورزش او رياضت....................................................................................... - 23 -
خپل اولاد څنګه وروزو؟...................................................................................... - 23 -
کورنی اجتماع ..................................................................................................... - 25 -
کورنی تعاون او مرسته ...................................................................................... - 26 -
دوهم باب............................................................................................................... - 26 -
د اجتماع روح...................................................................................................... - 26 -
ملت څه شی دی؟.................................................................................................. - 28 -
دريم باب............................................................................................................... - 29 -
حکومت.................................................................................................................. - 29 -
د حکومت وظيفه ................................................................................................. - 31 -
د حکومت په باب کښی د پخوانيو نظريه .............................................................. - 33 -
حکومت د اسلام په نظر کښی............................................................................. - 34 -
د ملت د مشرانو صفات......................................................................................... - 36 -
د عربو په نزد د مملکت ارکان............................................................................. - 37 -
رعيت ................................................................................................................... - 37 -
عدل...................................................................................................................... - 38 -
عمرانات او ودانی ................................................................................................. - 38 -
تدبير او اداره ....................................................................................................... - 39 -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مترجم مقدمه

انسان نشی کولی چه لکه نور حیوانات خپل ټول احتیاجات یوازی ترسره کړي او د بل له مرستی څخه ځان مستغنی وګڼی، ځکه چه له یوې خوا د ده بدنی او جسمی حال چه د دنیا د سړو او تودو هیڅ طاقت او توان نلري، بی له نازکو او مناسبو خوړو بل شی ژوولی او هضمولی نشی او له بلی خوا د ده زیات ضروریات چه له حسابه وتلی دی دی مجبوروی چه له نورو سره لاس یو کړی، او یو د بل دپاره زیار وکاږی، نو لکه څنګه چه انسان فطرتاً بل ته اړ دی همدارنګه طبعاً ټولنی او اجتماع ته هم محتاج دی چه ځان ځانی او انفرادی حیات ته هیڅکله زړه نشی ښه کولی د همدې لامله انسان ته مدنی بالطبع یعنی د اجتماع غوښتونکی ویل کیږی. برسیره پدې چه د انسان مادی حیات او جسمی احتیاجات یې د نورو له مرستې سرته نه رسیږی معنوی او عقلی ژوندون ئې هم اجتماع او تمدن ته اړ دی، پدې هر څوك پوهیږی چه که انسان له اول وخته په یوه ځای کښی یوازی پاتی شی، او د نورو له صحبته استفاده ونکړی هغه که څه هم صورتاً انسان وی مګر د انسانیت معنوی فضایل به هیڅ نلری، نو د اجتماع ضرورت او دعلم اجتماع اهمیت له همدې مثل شوی حقیقت څخه ډیر ښه معلومیږی ځکه چه د هر علم اهمیت د موضوع په اعتبار پېژندل کیږی.

د همدی لامله په اوسنی ژوند کښی ما د پښتنو دپاره د دغه مهم علم معلومات مفید وګڼل او دغه کوچنې کتاب می په پښتو ژبه ترجمه او خپلو ورونو ته وړاندی کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمړی باب

## د اجتماع علم

د اجتماع علم د اجتماعی هیئت (ټولنی) په نفسی حالت او صورت کښی بحث او څیړنه کوی لکه چه علامه ګوستاولوبون د روح الاجتماع او سر تطور الامم مؤلف ئې هم همدغه شان تعریف کوی، نو هر کله چه د جماعت نفسی صورت او حالت د افرادو له نفسی صورت او حالت څخه جوړېږی باید د شخص نفسی صورت او بشری ذاتیت تحلیل شی ترڅو چه د جماعت نفسی صورت واضح او څرګند شی. دا خبره هم باید ښکاره شی چه فرد او جماعت دواړه یو د بل په نفسی صورت او روح کښی اغېزه او تاثیر کوی.

بارت، د المان اجتماعی عالم وایی: هر تغیر چه په یوه جامعه کښی پېښېږی هغه تغیر په کورنیو او د افرادو په روح کښی نور تغیرات پیدا کوی نو باید اجتماعی عالم پدې څو شیانو کښی غور او دقت وکړی:

لمړی- د افرادو روحی علایق

دوهم – د فرد او د جماعت یو له بله روحی اثر او د هغې اندازه

دریم – څه شی چه د دې دوو روحی اغېزو له مدافعې او مقابلې څخه پیدا کېږی

څلورم – هغه ذاتی او خارجی عوامل چه د فرد په پیدایښت او د اجتماع په تطور کښی عمل کوی، نو معلومه شوه چه د جماعت په روح کښی بحث او څېړنه د علم اجتماع وظیفه ده.

## د علم اجتماع ماده او موضوع

هر کله چه د طبعی انسان تاریخ د علم اجتماع ماده ده نو باید د انسان په اصل باندی لږ څه بحث وشی چه آیا دا ټول انسانی طوایف سره له دومره زیاته تفاوته چه یو له بله ئې لری له یوه اصله (ادم(ع) او حوا) څخه پیدا شوی دی او که هره طایفه ځانته بېل بېل اصل لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله دا چه آیا انسان اول ځل په همدغه صورت پیدا شویدی او که دودی او ارتقا په اصولو د انسانیت درجی ته رسېدلی دی.

دا یو لوی بحث دی چه مونږ ئې دلته د اجمال او اختصار په صورت راوړو، څه بحثونه چه پدې موضوع کښی شویدی پدې دری مذهبو کښی خلاصه کېږی.

اول: انسان د تصادف په طور بی له دې چه د چا اراده پکښی دخل ولری پیدا شوی دی چه دطبیعت مخلوق ورته ویل کېږی.

دوهم: انسان د پاك خدای په اراده اول ځل په همدغه شکل او صورت پیدا شوی دی.

دریم: انسان لمړی ځل په یو بل صورت پیدا شوی او وروسته ئې انسانی حالت ته ترقی کړیده.

د اول مذهب طرفداران دا ګمان کوی چه انسان اول ځل په یوه کلك غلاف (پوښ) کښی په بحر کښی پیدا شوی چه د رودلو (امتصاص) په واسطه ئې غذا موندله څه موده وروسته له غلافه وتلی دی چه بیائې غذا د خپلو اعضاو په واسطه ترخولې کولی شوه.

دوهم مذهب چه زمونږ دینی عقیده او صحیح مذهب دی د دې مذهب طرفداران وایی چه په زرګونو کلونه زمونږ له نظره تېره شوه چه انسان بلکه هر حیوان په خپل صورت پاتی دی او هېڅ تغیر پکښې نه دی پېښ شوی او نه د نشو او ارتقا آثار په کومه نوعه کښی لیدلی شوی دی نو معلومه شوه چه انسان له ابتدا څخه په همدغه صورت پیدا شوی دی او که داسی نه وای نور تغیرات به هم مونږ لیدلی و، ددې مذهب له مشهورو طرفدارانو څخه چه یوازی په علمی نظر دې موضوع ته ګوری او دینی عقیدې ته پکښی دخل نه ورکوی بوفون، فلورنس، کاترفاج د فرانسی او داسی نور دی چه دې نظریی ته علمی رنګ ورکوی. بوفون د تاریخ طبیعی په بحث کښی وایی: د اروپا سپین رنګی انسان او د افریقې توربخن انسان او د امریکی سوربخن انسان د یوه اصل لرونکی دی چه د خپل اقلیم او وطن په رنګ رنګ شوی دی، دی پدې قول د هغو کسانو نظریه ردوی چه هغوی د څېرو او رنګونو تفاوت د اصل د تعدد دلیل ګڼی.

د دریم مذهب خاوندان د خپلی مدعا دپاره داسی دلیل نلری، چه د سړی زړه ته ولوېږی دوی د انسان او بیزو په منځ کښی په یوه سلسله قایل دی چه تر اوسه ئې نه ده پیدا کړی ا د ډېری زمانې تېرېدو ته منتظر دی. تر دې ځایه یو لنډ او مختصر بحث د انسان په اصل باندی وشو، که مونږ د انسان په ماهیت کښی بحث وکړو نو له خپلی موضوع څخه به نورو فلسفی بحثونو ته و اوزو. هر کله چه د علم اجتماع موضوع انسانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجتماع ده نو باید د انسان په خواهشاتو او د عمراني پیشرفتونو په اسبابو او نورو اجتماعی مسایلو باندی لکه د کورنیو، کلو او حکومتونو په پیدا کیدو بحث وشی.

## د انسانی اجتماع تاریخ

که هر څومره پلټنه وکړو دا نه معلومیږی چه انسانی اجتماع له څه وخته شروع کیږی او د دې بڼ نیالګی په کوم وخت کښی اینبودل شویدی، ځکه چه هر څه چه د تاریخ پاڼو قید کړی دی هغه د بشری جمعیت مېوه ده چه تر اجتماع وروسته پیدا شوېده او د اجتماع نیلې له اولنی انسان سره چه د ځمکی په مخ پیدا شویدی سمی پیدا شوی او تر دې وخته رسېدلی دی، ځکه چه انسان په اول وخت کښی خپل احتیاج یوې ملګری (ښځی) ته حس کړی او له انفرادیت ځنی بېزار شویدی او همداغه احساس د علم اجتماع اساس او بنیاد دی چه د تاریخ له زمانې څخه پخوا اینبودل شوی دی، نو معلومه شوه چه دا علم یو نوی شی نه دی چه له دې اوسنی مدنیت څخه پیدا شوی وی او د دې قرن مولود وګڼل شی، د همدغه احتیاج په اثر چه انسان اول اجتماع ته او وروسته د داړونکو څاروو له ډاره څمڅو، غارونو او داسی نورو ته حس کړی تاریخی عصر پیدا شوی او د انسان عمرانی تقدم او عملی کارنامې په مختلفو بلادو کښی لکه: فارس، کلده، مصر، روما کښی لیدل شوی دی، دا هغه وخت دی چه د انسانی جمعیت فطری ذکاوت ډګر ته وتلی او د تاریخ دپاره د بحث موضوع پیدا شوېده نو ویلی شو چه د علم اجتماع قواعد په زرګونو کلو له میلاده مخکښی وضع شویدی. کوم مترقی ملتونه لکه: هند، فارس، چین، یونان چه د ترقی هسك بام ته ختلی و او تاریخ د دوی عظمت او لوی شان د تعجب په طور بیانوی دا یو تصادفی امر نه و بلکه د دوی معارف او حکومتی سیاست د اجتماع په صحیح او پایدار اساس باندی قایم و.

همدارنګه مصر چه پنځه زره کاله له میلاده مخکښی د دنیا ښایسته باغ او د علم و عرفان عالی مدرسه وه چه په حکمت کښی لکه افلاطون او سقراط نامدار شاګردان لري دا بی له دېنه چه د دوی اجتماعی قوانین ډېر متین او صحیح و بل سبب نلری، نو ویلی شو چه د انسانی اجتماع تاریخ ډېر پخوانی دی چه د تمدن او عمران د انتقال په سبب له یوه ملته بل ته نقل شوی او تطور ئې پیدا کړی دی تر څو چه پدی قرنو کښی اروپا ته رسېدلی او هلته یې قواعد کمال ته رسېدلی دی او دا نه ده معلومه چه دوی به ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترڅه وخته پورې وساتلی شي، ځکه چه ملتونه هم لکه افراد زږښت او ځواني، مرګ او ژوند لري چه انساني تدابير ئې مخه نشي نيولی.

## اجتماعي تطور

د هغه ضرورت او احتياج په اثر کښې چه ضعيفان ئې د زورورو، د تيرې د مدافعې دپاره اتحاد او يووالی ته لري انساني اجتماع له کورنۍ څخه قوميت ته او له قوميته مليت ته ترقي کړېده، همدارنګه سلطه او واکداري هم رورو زياته شوې او وروسته ترېنه حکومت تشکيل شوی دی، په اوله کښې يوازې پلار پخپل اولاد باندې آمريت او حکم درلود، وروسته مشر او رئيس پخپلې کورنۍ کښې واکداري پيدا کړې او پس له هغه ئې په کلي او قبيله کښې مشرتوب مونډلی دی، وروسته چه قبيلې وسعت او پراخوالی مونډلی او شعبې پکښې جوړې شوې دی، سره لدې چه هرې شعبې ځانته مشر درلود مګر عمومي مشرتوب د يوه سړي وو چه طبعاً ئې د پادشاهۍ حيثيت پيدا کړ.

بعضې وايي چه د مور سلطه تر پلار مخکښې وه، او همدغه سلطه د نورو سلطو منشأ ده په هر صورت چه وی، دا مسلمه او منله شوې خبره ده، چه خاندانې سلطه د نورو سلطو سرچينه ده.

## له طبيعي تاريخ سره د ټولنې د علم اړه

هر کله چه طبيعي تاريخ د علم اجتماع او د ملتو د احوالو د پېژندلو دپاره اساس ګڼل کېږی بنائې پخوا لدېنه چه مونږ د اجتماع په لمړيو عواملو کښې بحث وکړو، هغه علاقه چه د اجتماع علم ئې له طبيعي تاريخ سره لري هم لږ څه ښکاره کړو.

څنګه چه اوبه او هوا او د يوه اقليم طبيعي حالت پر معدن، نبات او حيوان اغېزه کوی همدارنګه په انسان کښې هم ډېره اغېزه لرې، نو بايد هغه طبيعي عوامل چه د انسان، حيوان، معدن او نبات په پيداښت کښې اثر لرې ښکاره او ظاهر شي، ځوك چه د نباتاتو او حيواناتو له علمه خبر نه وی او د دوی ارتباط ورته نه وی معلوم، ښائی د دې خبرې په اورېدو ډېر تعجب وکړی، ليکن بايد دوی فکر وکړی چه انسان له څه شي او څنګه پيدا شوی دی؟ ظاهره خو انسان له وينو، غوښو، هډوکو جوړ شوی مګر د ده علاقه له نبات يا معدن او حيوان سره څه شي دی؟ نو انسان لپاره د دې چه د مځکې په کايناتو کښې خپله رتبه وپېژنی او له حيوان او نبات څخه خپل امتياز حاصل کړی بايد د طبيعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ څخه برخه ولری. پاك خدای زموږ دپاره امثال بیان کړی او لکه احسن القصص د پیغمبرانو قصې ئې راته کړی دی دا ټول د دې دپاره دی چه موږ اجتماعی نظام او د شعبو سیاست ته لاره پیدا کړو، او د اجتماعی حیات دپاره ترینه قانونی درسونه واخلو.

پیغمبرانو هم د دې دپاره چه د بشری او حیوانی نفسونو په منځ کښې مناسبت او مشابهت لیده، اول ځل ئې د حیواناتو او رمو په ساتنه او تربیه شروع کړېده او وروسته ئې د انسانانو تربیې ته ملاتړلې، دوی پدې پوهېدلی دي چه په بعضی نفسو کښی غضب او په بعضو کښی حلم وی، بعضی قوی او بعضی ضعیف وی، نو د هر چا حق ئې پېژندلی او ساتلی دی.

ښائي چه انسان د حیوان او نبات طبیعت او د کانو خواص وپېژنی ترڅو چه داجتماعی هیئت خدمت وکړی شی، او پدې پوه شی چه د موالید ثلاثه (حیوان، نبات، جماد) حال له انسانی نظام سره تطبیق کېږی، او د ملت د طبقاتو اخلاق له ارضی کایناتو سره اړه او علاقه لری.

## انسان او معدن

معدنیات هغه اجسام دي چه تر ځمکی لاندی بخارو او لوګیو څخه پیدا شوی او له مختلفو اقسامو ځنی جوړ شوی دی. د اجسام د ترکیب په اعتبار بعضی قوی او بعضی ضعیف وی، بعضی اوږدوالی او پلن والی قبلوی او بعضی د دې صلاحیت نلری، انسان هم لکه معدن چه له آبی بخارو ځنی پیدا کېږی له اوبو څخه پیدا کېږی او د قوت او ضعف، شرافت او خساست، رفعت او ټیټوالی په اعتبار د مور او پلار له حاله سره سم او موافق وی نو هغه انسان چه تهذیب قبلوی لکه هغه معدنی شی دی چه هر صورت قبلوی او زرګر یا پښ ترینه هر څه جوړوی او حکما لکه هغه قیمتی کاڼی داسی دی چه په کانو کښی پیدا کېږی.

کومی د پوخوالی دورې چه تر ځمکی لاندی د حرارت او رطوبت په سبب کان باندی تېرېږی، له هغو دورو سره مشابهت لری چه د انسان په نطفه باندی په رحم کښی تېرېږی، او غوښه، وازده، هډوکی ترینه جوړېږی، پس له هغه چه انسان له موره پیدا کېږی نو کومی دورې چه په کوچنی باندی د روزنی په وخت کښی راځی، او مختلف احوال لکه روغتیا، ناروغی، نیکبختی او بدبختی ورته پیښېږی دا لکه هغه تطورات داسی دی چه معدنیاتو ته د کاریګرو او کسبګرو له لاسه رسېږی، او مختلف صورتونه قبلوی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان او نبات

انسان پس له تی رودلو څخه لکه بوټی (نبات) بې له بشپړې ارادې غذا خوری او حرکت کوی نو که غذا ئې طبیعی وی، د بدن په وده او لویوالی کښی تاثیر کوی او که روحی وی د عقل او ویښتوب په زیاتوالی کښی صرفیږی پدې وخت کښی ماشوم د خپل محیط القاآت قبلوی او لکه نبات د خپلی کورنۍ له حاله سره وړ پانۍ او مېوه نیسی.

نو ښه روزنه د کوچنی په حال کښی هغه تاثیر کوی لکه چه د هوا اعتدال ئې د نباتاتو په نشو و نما کښی لری، او بده پالنه لکه هغه تاوده بادونه داسی دی چه د نباتاتو د مړاوی والی او وچوالی سبب ګرزی. نو څوك چه د نباتاتو په روزنه پوهیږی او پدې علم کښی لاس لری هغه کولی شی چه خپل اولاد لکه یوه ښه بوټی داسی وروزی او ښه نتیجه ترینه واخلی.

غرض دا دی چه د کوچنی روزونکی باید د نباتاتو او حیواناتو له علمه خبر وی، او کومه علاقه چه دا دواړه ئې له انسان سره لری هغه ورته معلومه وی چه د کوچنی په تهذیب او روزه په ښه ډول بری ومومی او د اجتماع علم د کونیه علومو په یوه متین اساس بنا شی، چه موږ هم د غرب له ژوندیو ملتو سره د سمی روزنی په اثر کښی برابر شو.

څوك چه د نباتاتو له حاله خبر شی او د نباتاتو مختلف اقسام چه ځنی وابنه وی او بعضې ونی، ورته معلوم شی هغه پوهیږی چه انسانان هم بعضی لکه وابنه پخوا لدینه چه ونه ځنی جوړه شی د طفولیت په وخت کښی مری او بعضی لکه ونی کمال ته رسیږی، بعضی انسانان لکه میوه داری ونی نفع او ګټه لری او بعضی لکه بی مېوو ونو غوندی بې فایدې وی.

لکه چه بعضی نباتات د لمر په تودوخه او آزاده هوا کښی وده کوی، او بعضو ته لمر او هوا ضرر رسوی، همدارنګه د انسانانو په ډله کښی هم بعضی د طبیعی مناظرو په لیدلو او د پاکی او آزادی هوا په تنفس ښه نشو و نما کوي او بعضی لکه هغه بوټی چه په تورتم او تیاره کښی ښه لوئیږی او د لمر په رڼا کښی خرابیږی دوی هم په یوه فاسد محیط او ترږمۍ کښی روغ او جوړ وی او په ښو ځایو او شنو باغو کښی زړه تنګی کیږی، او هغه شان وده نه کوی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان او حیوانیت

د انسان په وجود کښی پس له بلوغه شعور او احساس زیات میندل کېږی او ورځ په ورځ خپل احتیاجات ښه خوراك، ښې ښځی، ښه ځای او داسی نورو ته حس کوی، او د خپلو خواهشاتو د اجرا کولو دپاره کوښښ کوی او همدغه شی ته قوه شهویه ویله کېږی.

پدې وخت کښی چه انسان خپل قد و قامت او ښه صورت په هنداره کښی ووینی، د کلان کاری آثار پکښی څرګندېږی او ځان ورته لوی سړی ښکاری دا د غضبی قوی آثار دی چه ورځ په ورځ پکښی زیاتېږی. پدې دوو خصلتو (شهوت، غضب) کښی حیوان له انسان سره شریك دی، نو هر کله چه د ځوانی خواهشات د ده په عقل باندی غالب شی ولمړیو عناصرو آثار او د مور او پلار خویونه پکښی ښکاره کېږی، نو که له لوړی او زوروری کورنی څخه وی، لکه هغه ځناور او درنده چه د بل د ښکار غوښی نه خوری، دی هم د بل پس خوردی ته سترګی نه نیسی او دنائت خواته میل نه کوی او که چیری له ټیټی او خسیسی کورنی وی نو په هر قسم دنائت په ممکن وی ځانته خوراك پیدا کوی.

دا قسم انسانان د اشرارو له نوعی څخه حسابېږی چه په شرارت کښی یو له بله تفاوت لری. همدارنګه د شرف خاوندان هم د قوتونو او د هغو عناصرو په اعتبار چه د دوی په روحیاتو کښی ئې اثر کړی متفاوت دی.

څنګه چه اهلی او کورنی حیوانات بعضی قوی وي، چه درانه درانه بارونه له یوه ځایه بل ځای ته وړی، په انسانانو کښی هم بعضې داسی کسان وی چه سخت او ګران کارونه سرته رسولی شی، او فکری قوت، هیڅ نلری یوازی د علمی قوت خاوندان وی او دا کسان د دې دپاره پیدا شوی وی چه بل څوك ئې په لار بوزی او کار ځنی واخلی.

تر دې ځایه په هغه مناسبت او مقارنت چه د انسان، معدن، نبات او حیوان په منځ کښی موجود و او د اجتماع د علم لوستونکو ورته ضرورت درلود لږ څه بحث وشو، د یوه ملت قاید ته لازمه ده چه د کایناتو او موجوداتو ټول قوانین له بسیطو عناصرو ځنی نیولې، تر لویو مرکباتو پوری تر نظر لاندی ونیسی.

زمونږ غرض دا نه دی چه ټول خلق دی د طبیعی تاریخ په لوستلو او تطبیقولو باندی مصروف شی ځکه چه دا د قوم د واکدارنو او مشرانو کار دئ چه له دې راز معلوماتو ځنی استنباط وکړی او د خپل قوم او وطن دپاره مناسب قوانین او اجتماعی اصول

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوره کړی. او دا خبره هم باید معلومه شي چه مونږ د علم اجتماع متخصصینو ته ډېر احتیاج لرو.

## د اقلیم، اوبو او هوا اغېزه

## د قوم په روحیاتو کښې

لکه چه اوبه او هوا په نباتاتو او حیواناتو کښې اغېزه لری همدارنګه په انسانانو کښې هم عقلی او جسمی تاثیر کوی. اجتماعی علماء او هغه سیاحان چه په مختلفو هوادونو کښې ګرزېدلی دی او د هر ځای د انسانانو خصوصیات ئې په رنګ، شکل کړه وړه کښې لیدلی دی دا حقیقت بې شك او شبهې قبلوی، نو ځکه علامه ګوستاولوبون وایی چه که موږ د پخوانیو او اوسنیو ملتو په حال کښې غور وکړو او د هر ځای زاړه او نوی مدنیتونه تر نظر لاندی ونیسو، نو د اجتماعیونو پدې قول به یقین وکړو، چه د معتدلو اقلیمونو اوسېدونکی د عقل په اعتبار تر هر چا زیات او په مدنیت کښې هم تر نورو وړاندی دی، لکه چه تاریخ هم د معتدلو مناطقو د تمدن آثار او نفسی صفات لکه همت، ذکاوت او داسی نور ... او د شمالی خواو (یخو منطقو) بی فکری او عدم نشاط او د ډېرو تودو ځایو سستی او وحشت موږ ته ښیئی.

نو اجتماعی علماؤ د اقلیمو تاثیرات او نور عوامل تر نظر لاندی نیولی دی او د دې دپاره چه د جماعتو عقلی اندازه وښئی، بعضې قواعد ئې وضع کړی چه دې بحث ته علم عمران ویل کېږی، کوم عوامل چه د عمران پوهانو د ملتو د مدنیت او استعداد دپاره د مقیاس په ډول بیان کړی هغه دا دي.

## عوامل او تاثیرات ئې په انسان کښې

| | | |
|---|---|---|
| د اقلیم اعتدال | - | ذکاوت او د ترقی استعداد |
| د اقلیم برودت (سوړتیا) | - | بې عقلی او د ادراك ضعف |
| د اقلیم حرارت (تودوخه) | - | سستی او د عقل ضعف |
| زلزلې | - | نا امیدی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| د زراعتي محصولاتو زياتوالى | - | سستي، تنبلي، د ابتكار ضعف |
| د محصولاتو لږ والى | - | د عزم قوت، او د ذهن انكشاف |
| د كانو زياتوالى | - | عملي اقدام، او د اختراع فكر |

دا هغه عوامل دى چه عمراني پوهانو د اقوامو د ترقۍ او انحطاط دپاره مقياس مقرر كړى مګر د تودو او سړو زنطقو د انحطاط او ټيټوالي عوامل يو شان او مساوى نه دى ځكه چه موږ ته تاريخ، د تودو ملكو مدنيتونه لكه: هند، چين هم راښئيى، نو ويلى شو چه د تودوخې زياتوالى نسبت سړتيا او برودت ته په انحطاط كښې لږ تاثير لرى د همدې لامله بعضې اجتماعيون وايي چه د تودې مځكې خلق د ترقۍ استعداد لرى خو اطمينان او د حاكمانو د لجوئى ورته ضرورت دى.

## معتدل اقليمونه

معتدل اقليمونه د تودو او سړو ملكو په منځ كښې واقع دى او قسم قسم بوټې پكښې شنه كيږى.
د داسي ځايو خلق په كسبو كښې يو له بله مختلف وى. په فلاحت كښې تر نورو تكړه په تجارت كښې هوښيار، په صناعت كښې ګرندى اوله همته ډك وى.

## سړې مځكې

ساړه اقليمونه چه په شمالي منجمده منطقه كښې واقع دى ځمكه ئې د زراعت دپاره ښه مستعده نه ده نو خلق ئې خپله غذا او ضروريات له بحر څخه مومى او دا حالت طبعاً د دوى د صبر او قناعت موجب ګرزى.

## تاوده اقليمونه

تاوده ځايونه چه زراعتي محصولات پكښې ډير او قسم قسم وى خلق ئې د محصولاتو د زياتوالي په سبب له احتياجه خلاص وى، او زيار ايستلو ته نه مجبوريږى نو طبعاً عياش

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تنبل وی، دوی یوازی عیش او استراحت غواړی که پردی حاکم ورباندی مقرر وی هم ورته ډیر بد نه ښکاري.

د داسی ځایو د خلقو عزمونه سست، او عقلونه ئې ضعیف وی، د همدې لامله د تودو اقلیمو اوسیدونکو، فاتحینو او استعماریونو ته په ځان باندی لاره ورکړې، او په خپل وطن کښی ئې خلقو ته د فتح او بری میدانونه جوړ کړی دی او په محض حیات قانع شوی وی!

د اقلیم د اوبو او هوا تاثیر یوازی د ملتو په اخلاقو پوری منحصر نه دی په صناعیو او لغاتو کښی هم تاثیر کوی ځکه چه د اقلیم طبیعت او کانونه خلق هغو صنایعو ته وړاندی کوی چه له هغه اقلیم سره مناسبت لری، او د اختراع او ابتکار فکر هم د محیط له تقاضا سره سم پکښی پیدا کوی، مثلاً دوړېښمو صنعت په هغه ملك کښی ترقی کوی، چه د توت ونی پکښی زیاتی وی.

همدارنګه لغات هم د اوبو او هوا په اعتبار د یوه ځای له بل ځایه فرق کوی، او لهجه هم هرومرو بدلیږی، که په یوه وطن کښی یوه ژبه هم وی د یوې علاقې تلفظ له بلی علاقې څخه بېژندل کیږی، او لکه چه د افرادو په منځ کښی مباینت لیده کیږی، د فرقو او شعبو په منځکښی هم توپیر او تفاوت وی.

## انسانی ټولنی

کوم وخت چه د مشرق پوهانو د علومو اساس ایښود، د سیاست او اجتماع علم ئی هم په نظر کښی نیولی وو، وګوریځ! ابونصر فاریابی[1] له لسوقرنو راهیسی دې خواته توجه کړیده او د خپل کتاب (ارا ٔ اهل المدینة الفاضله) په اخر کښی ئې اجتماعی بحث د خلاصې په ډول راوړی چه مونږ ئې د انسانی اجتماعاتو اقسام دلته را نقل کوو.

د انسان کمال په اجتماع پوری اړه لری او انسانی اجتماعات بعضی کامل او بعضی غیر کامل وی، کامله اجتماع په درې قسمو – عظمی، وسطی، او صغری وېشله کیږی. عظمی د ټولو ملتو اجتماع ته او وسطی د یوه ملت اجتماع ته چه د دنیا په یوه حصه کښی وی ویل کیږی او صغری دیوه ښار د اوسېدونکو اجتماع ته وایی.

غیر کامله اجتماع ګانی لکه د یوه کلی یا محلې یا د یوه کاله د اوسېدونکو اجتماع ګانی دي، چه د بشری اجتماع اساس بلل کیږی.

---

[1] ١ ابونصر فاریابی (۲۶۰ – ۳۳۹ هـ) مشهور فیلسوف دی، چه زمونږ د وطن په فاریاب کښی زیږیدلی دی. (مترجم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره وړه ټولنه د لويې اجتماع خادمه ده، او يوې اجتماع ته هغه وخت اجتماع فاضله ويله کېږي، چه افراد ئې د سعادت په ميندلو کښې يو له بله سره مرستی وی او که داسی نه وی نو غير فاضله ورته وايی.
فاريابی وروسته تر دې بشری اجتماع د بدن د اعضاؤ د اجتماع سره تشبيه کوی او وايی چه يو ملت يا د يوه ښار اوسېدونکی لکه يو بدن داسی دی چه بعضی اعضا پکښی خادم او بعضی مخدوم وي، چه د رتبی په اعتبار يو له بله تفاوت لری، نو لکه چه زړه، دماغ، او د حس او حرکت نور اعضا او غړی ځان ځانته وظايف لری همدارنګه د يوه وطن اوسېدونکی هم هر يو د ګوښی کار استعداد لری او هر يو د خپلی رتبې او مقام په اعتبار ځانته حيثيت مومی.

# کورنۍ ژوندون

هر کله چه کورنۍ د شعبو او قبايلو اصل او اساس دی، نو د هر ملت کورنۍ چه د علم اجتماع په صحيح اساس باندی جوړی وی، هغه ملت به هرومرو د سيادت او حريت خاوند او د ترقۍ لرونکی وی، او که داسی نه وی نو په ذلت او خوارۍ به ککړ وی، نو ځکه موږ د کورنۍ او ازدواج په تاريخی دورو او په منزلی امورو کښی بحث کوو.

# ازدواج

ازدواج يعنی ښځه کول يو طبعی امر دی چه د ملتو د مقاصدو او قوانينو په اعتبار تغير پيدا کوی، او له طبيعی صورت څخه شرعی حالت او مفيد صورت ته انتقال کوی، نو فلاسفه ئې يو طبيعی امر، او مقننين ئې مدني تړون ګڼی، د دين خاوندان ئې يو مقدس او مسنون کار او د نسل د زياتوالی دپاره ډېر ضرور او لازم بولی، اجتماعيون او اقتصاديون ئې هم د اجتماع دارمدار او د انتظام او راحت يو لوی سبب شمېری.
بعضې خلق لکه يونانيان ښځه د نارينه يوه حقيره خادمه او شريره طايفه ګڼی چه د تذليل دپاره ئې په نکاح اخلی، او دا ذهنيت دوی ته له خپلو حکماو پاتی شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر څوك چه حقيقت ته رسېدلی دی هغه د ښځو په حق کښی دا قسم ذهنيتونه نلري او په ښه نظر ورته ګوری.

## ازدواج او اجتماعی تړلنه

که څوك غواړی چه روغ او سليم العقل افراد او يو قوی نسل د جامعې د خدمت دپاره پيدا کړی بايد له مسکراتو او هغو شيانو چه د ګيډی د ناروغيو سبب ګرزی خپل ځان وساتی، ځکه چه اولاد زيات صحی خصايص له خپل پلار او مور ځنی مومی، نو پلار برسېره پدې چه ښائی د ښې روغتيا لرونکی وی ښه تندرسته ښځه دی هم په نکاح اخلی چه اولاد ئې قوی او صحيح راشی.
که سړی څه قدر ضعيف هم وی که ښځه قوی او د ښه صحت لرونکې وي، د اولاد په حق کښی د مېړه د ضعف تلافی کولی شی، او که دواړه ضعيف وی نو هېڅ شك نشته چه اولاد به ئې هم ضعيف وی.
دا منله شوې خبره او د وراثت د قانون متقضی ده، چه اخلاقی او جسمی صفات له پخوانيو څخه وروستنيو ته انتقال کوی نو بايد پخوا له ازدواج څخه دا مراعات وشی، چه مېړه او ښځه له هغو امراضو چه د وراثت په اعتبار راتلونکی نسل ته يا له ښځی ځنی مېړه ته او له مېړه څخه ښځی ته سرايت کوی خلاص وی، نو هر ملت که غواړی چه تر نورو ملتو قوی او د ترقۍ په لاره کښی وړاندی وی ښائی د دغسی امراضو چه د ازدواج په واسطه سرايت کوی جلوګيری وکړی. څوك چه پدې باب کښی زياتو معلوماتو ته ضرورت لری هغه بايد هغو طبی کتابو ته چه پدې موضوع کښی ډېر تفصيل لری او خورا مفيد دی مراجعت وکړی او خپل معلومات کامل کړی.

## د کوزدې کال او وخت

څه شی چه د ډېر غور او دقت وړ دی هغه د واده او نکاح وخت دی، ډېر خلق د خپل زوی او لور نکاح ته پخوا له بلوغه اقدام کوی، او بعضی تر ډېرشو کلو بلکه زيات تاخير کوی نو د دې دپاره چه دا افراط او تفريط له مينځه ليری شی او يو مناسب ټاپی ورته وټاکل شی، اطباؤ پدې موضوع کښی ډېر غور کړی او ويلی ئې دی هر وخت چه هلك

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نجلی خپل تناسلی احتیاج حس کړی او بلوغ ته ورسېږی دوه کاله وروسته لدې باید د دوی د ازدواج او نکاح دپاره اقدام وشی، ځکه چه تر دې دمخه برسېره پدې چه دوی دواړه د ازدواجی حیات او کورنۍ ژوندون په خوند ښه نه پوهېږی، او عمر ئی سره تریخ کېږی تناسلی اعضائې هم د ودی او لوینست انتهائی حد ته نه وی رسیدلی، نو هم دوی ته ضرر رسیږی او هم ئې اولاد ضعیفه کېږی نو پس له بلوغه باید دوه کاله نور هم تاخیر وشی، تر دې زیات تاخیر هم ښه نه دی، ځکه چه تناسلی اعضا بیکاره او مهمل پاتی کېږی او تناسلی قوت ئې ضعیفه کېږی، نو دغه وخت باید د واده دپاره مناسب وګڼل شی او هېڅ تقدیم او تاخیر پکښی ونشی.

د بلوغ زمانه د دې لامله چه یو ځای له بل ځایه د آب او هوا، تودوخی او سوړتیا په اعتبار فرق کوی تعین نشوه.

# د کور سرشته (تدبیر منزل)

ښوك چه د اجتماع علم ته په سر سری نظر ګوری هغه به دا بحث او د ازدواج مسایل او همدارنګه د عایلی د روغتیا خبری د دې کتاب له موضوع څنی خارجی وګڼی مګر که ښه ځیر شی او پدې پوه وی چه عایله او کورنۍ د اجتماع اساس او لمړۍ حلقه ده، چه رورو زیاته شوې او تر دې حده رسیدلې ده، هغه به مو مقصر وبولی که لدې بحثونو صرف نظر وکړو، او دا بحثونه به پدې موضوع کښې داخل وګنی، نو موږ دا بحثونه ضرور ګڼو او څه چه بوعلی سینا پدې موضوع کښی لیکلی دی را نقل کوو او د دې دپاره چه خلقو ته دا معلومه شی چه د تدبیر منزل علم د دې عصر له ارمغانونو څنی نه دی له ډېری مودې پدی خوا، دې علم رواج درلود او موجود و، له «ارشاد القاصد» ښخه چه څه دپاسه اوه سوه کاله مخکښی لیکل شوی او پخوانی کتاب دی د دې علم تعریف را اخلو، د دې کتاب مؤلف وایی چه د تدبیر منزل علم د ښځی او مېړه او اولاد او خدمتګارو په مشترك احوال کښی بحث کوي، او فایده ئې د کور انتظام او سرشته ده چه د انسان د سعادت سبب ګرزی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د انسان سیاست له ښځې سره

شیخ بوعلی سینا وایي چه صالحه او نیکه ښځه له نر سره په مال کښې شریکه او د کور په کارو کښې ملګرې ده، او ښه ښځه هغه ده چه هوښیاره، دینداره، فرمان برداره او امانت ګره وی چه له خپل مېړه سره زیات محبت لری او په خدمت کښې ئې صادقه وی، شنډه او ژبان بازه نه وی او برسېره پدې د انتظام او تدبیر خاونده وی چه د مېړه لږ مال د ښې سربښتې په واسطه زیاتوی او د ښو اخلاقو په سبب د مېړه زړه خوښ ساتی.

شیخ د مېړه په سیاست کښې له ښځی سره دا شیان ضرور ګڼی.

ځان د ښځې په نظر کښې مهیب او موقر ښودل او ښځه د کاله په کارو مشعولول، دا ځکه چه که مېړه د هیبت خاوند نه وی ښځې ته سپك او معمولی سړی ښکاری او اطاعت ئې په ځان لازم نګڼی.

همدارنګه د مېړه وقار هم د ښځې د محبت او دلچسپۍ سبب ګرزی، ښځه ئې د خپلې سر لوړۍ موجب ګڼی او خپل مېړه ته په درنه سترګه ګوری، د ښځې مشغولول د کاله په کارو باندی هم یو مهم امر دی چه ښځه له بېځایه ناستی ولاړی منع کوی او له کور سره ئې دلچسپی پیدا کوی.

# د انسان سیاست له اولاد سره

شیخ بوعلی سینا وایي چه اولاد په مور او پلار باندی بعضی حقوق لری چه د مور او پلار د توجه وړ دي.

اول باید مور او پلار خپل اولاد ته یو ښه مناسب نوم پیدا کړی او وروسته ورته یوه داسی دایی پیدا کړی چه بی عقله او مرضی نه وی ځکه چه د دایی شودې په طفل کښې اثر کوی. هر وخت چه طفل له تی ځنې پرېکړ شی باید پخوا لدېنه چه هغه بد بد خویونه زده کړی ښه ښه خویونه او ادب وروښودل شی او له بدو کارو ځنې ئې کله د تحسین او آفرین په واسطه او کله د ملامتولو او سرزنش په ذریعه وژغوری او هر وخت چه د زده کړی قوت پکښې پیدا شي تر تعلیم لاندی ونیول شی، د کوچنی روزونکی او مربی باید عاقل، متدین او د کوچنیانو په اخلاقی پالنه پوه وی، د وقار او خوږ بیان لرونکی او د نظافت، سیاست او مروت خاوند وی. هر کله چه کوچنی له دینی او اخلاقی زده کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځخه فارغ او د لغت د اصولو له زده کولو وزګار شی، باید د یوه مفید صنعت زده کړیته وګمارل شي چه د خپل حیات تامین وربآندی وکړی شی.**
**دا یوه عمومی تربیه ده چه ابن سینا بیان کړېده، خصوصی تربیه باید د هر ملت له خپلو احتیاجاتو او مقتضیاتو سره سمه وی۱[2].**

## د انسان سیاست له خپلو خدمتګارانو سره

**د دې دپاره چه د تدبیر منزل او د سیاست د علمو قدامت او پخوانیتوب معلوم شی موږ د شیخ بو علی سینا له بیانه چه پدې موضوع کښی ئې کړی لږ څه را نقل کوو. وګورئ! شیخ دا موضوع څنګه ښه تحلیل کوی او وایی چه خدمتګاران لکه د انسان اعضا او غړی داسی دی چه لکه لاس او پښې او نور اعضا د ده په کارو کښی ښورېږی او کار ورته کوی، که خدمتګاران نه وی انسان مجبور دی چه پخپله خپل کارونه تر سره کړی او داسی کارو ته اقدام وکړی چه د ده شان و شوکت ته صدمه رسوی نو باید سړی با همته او امین خدمتګاران ځانته غوره کړی او داسی معامله ورسره وکړی چه د هغوی د خوشحالتیا او اخلاص سبب شی او سره لدې باید خپل وقار او هیبت هم د هغوی په نظر کښی وساتی، ځکه چه د انسان خپل وجاهت او وقار لکه حاجب او دروازه وان د سړی حرمت او عزت ساتی.**
**که چیری له کوم خدمتګار ځنی کوم ناوړه کار څرګند شی باید سړی ئې په داسی شان له هغه کاره را وګرزوی، چه د هغه د زړه بد والی سبب نشی او که کوم ډېر بد کار ورځخه څرګند شی، چه بخښنه ئې د سړی سیاست ورانوی، ښائی له خدمتګارئ منفك شی چه د ده بدی او بد اخلاقی نورو ته سرایت ونکړی.**

---

۱ اوس د روزنی او پالنی علم ډېر ارت شوی دی، چه بېل اصول او ځانته مخصصین لری، موږ باید د اوسنی علم سره سم د خپل
[2]ملت اوپښتنوالی تر سیوری لاندی خپل زامن ورزو (مترجم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کورنۍ نيکبختي

د کورنۍ نيکبختۍ اساس نيکه او صالحه ښځه ده چه د کور اداره په اخلاص او ښه زړه کوی، او د خپل کاله شئون ساتی نو بايد هر ځوك د جمال حقيقت وپيژنی او ځانته د حقيقی جمال لرونکې ښځه غوره کړی، ځکه چه اکثره اجتماعي نقايص په کورنيو کښی د همدې لامله پيښيږی چه ځلميان د جمال په پيژندلو کښی غوليږی او هر يو له خپل ميل سره سم يو قسم جمال خوښوی، او د هماغه ښايست لرونکې ښځه ټاکی، ځوك يوازی د مخ په سپينوالی او سور والی او غټو سترګو او ځوك په ښه کړه وړه غوليږی، د روحی او معنوی ښکلی توب هيڅ مراعات نه کوی، بعضی خلق لا د ښځی تمول او معتبری په نظر کښی نيسی او دې ته نه ګوری چه دا راز ښځه خپل ميړه ته په ډيره درنه سترګه نه ګوری او ډير انقياد ورته نه کوی، نو بايد ځلميان دا قسم فکرونه چه اجتماعی نظام ورانوی له خپلو ذهنو وباسی، او په تش ظاهری جمال او جلال ونه غوليږی.

# لمړی تربيه

پدې کښې هيڅ شك نشته چه عايله او کورنۍ د کوچنی د روزنی لمړی ځای دی چه دی د کار او عمل او د حيات د جګړو دپاره تکړه کوی او د معاشرت او اجتماعی حيات مبادی ورته ښئيی.

د کورنۍ عادتونه او خويونه د کوچنی د اخلاقو اساس او لمړۍ خښته ده، نو که چيری کوچنی پدې لمړۍ مدرسه کښی ښه وروزل شی، البته د خپلی کورنۍ او د مور او پلار د خوشحالۍ سبب کيږی.

وړوکی که څه هم په ظاهره يو ضعيف مخلوق معلوميږی، مګر د يوه ملت په قوت کښی حقيقی او رښتيانی تاثير لری نو ځکه د اجتماع علما او لوی حکماً چه خپل عمرونه د ملت د قوت د اسبابو په څيړنه کښی تيروی د اطفالو د ضعف او د نسل د لړوالی او زياتوالی په موجباتو ډير غور او دقت کوی ځکه چه همدغه واړه دبلی ورځی ځوانان او ځلميان دي.

نو ښائی پدې ځای کښی د ميندو د معلوماتو دپاره د اساسی روزنې څه حصه وليکله شی او ورته معلومه شی چه تربيه په انسان کښی داسی تاثير کوی لکه چه د باغوان زيار او عمل ئې د باغ د بوټو او ونو په وده کښی کوی، نو لکه چه د باغ بوټی او ونی په نشو و

(c) ketabton.com: The Digital Library

نما کښې د مربی روزلو ته اړتیا لری، نو روزنه د علم اجتماع یوه لویه شعبه ده، چه لویو لویو خلقو لکه نیلسون، روسو فرانسوی او پس له هغه پستالوژی د نولسم قرن او داسی نورو اشخاصو پکښې ښه ښه تالیفونه کړیدی او لکه ابن سینا چه پخپل کتاب (قانون) کښې ورته یو فصل خاص کړی نورو طبیبانو هم ورته پخپلو کتابو کښې فصلونه مقرر کړیدي.

## تربیوی مذاهب

کوم علمی اصول چه د روزنی پوهانو وضع کړیدی دریې مذهبه ځنی جوړیږي:

لمړی: د هلفتیوس فیلسوف مذهب دی وایی وړوکی په اوله کښې د هر شی د قبلولو دپاره مستعد وی نو هر کله ئې چه لمړی ځل په مور یا دایی سترګی ونښلی همدغه ئې اول مربی ګڼل کیږی، چه د حیات لاری ورښئې نو بنا پر دې نظریی کوچنی په ښو او بدو نه ستایل کیږی، او لکه یو حیوان د خپل احتیاج او خواهش سره سم حرکت کوی او د نورو تقلید کړی.

دوهم: د ډاکتر غال المانی مذهب – دی او بعضی نور کسان د ټولو نفسی خواهشاتو چینه اعضا او جوارح ګڼی، او وایی چه که دغه د انسان ناقص وی هغه انسان د معنی په اعتبار هم ناقص وی تربیه پکښې تاثیر نشی کولی.

دریم مذهب: یوه بله ډله چه دا دواړه مذهبه افراط او تفریط ګڼی وایي چه ډیر کوچنی سره لدې چه اعضائې ناقص وی، روزنه ښه اغیزه پرې کوی او ډیر کوچنی بیا سره لدې چه روغتیا او بدن ئې ښه وی هم روزنه پکښې اثر نشی کولی، نو باید طبیعت او تربیت دواړه مؤثر وګڼل شی او د دواړو خواوو مراعات وشی، ځکه چه طبیعت انسان ته مختلف او متفاوت قوتونه ورکوی او تربیت همدغه قوتونه د محیط له حال او د کوچنی له میل سره سم عقلی او اخلاقی خواو ته متوجه کوی، نو ویلی شو چه روزنه د اخلاقو او عقلی او مادی قوتو صیقل دی چه دا ټول قوتونه د عمل دپاره مستعد کوی او پخپل وړ محل کښې ئې استعمالوی.

افلاطون وائی، تربیه روح او جسم دواړه هر ممکن کمال او جمال ته رسولی شی.

سپنسر وایی، تربیه انسان د پوره معیشت دپاره تیاروی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تربيې نېټې او هغه شيان چه پر تربيه کښې اثر کوی

کوم شيان چه د تربيې په اصلاح يا خرابوالی کښې تاثير کوی هغه دا لاندينی عوامل دي.

۱ کور
۲ همنشينان او ملګري
۳ مکتب او مدرسه
۴ فاميل او کورنۍ
۵ کتابونه او جرايد
۶ طبيعت
۷ سياحت

نظر دې پاسنيو عواملو ته روزنه درې اصلی دورې او يوه تتميمی دوره لری، چه د درو لمړيو دورو آثار پکښې ښکاره کيږی.

۱: مورنۍ تربيه چه د ولادت له وخته شروع کيږی او په اوه کلنۍ باندی ختميږی.
۲: اولنۍ تربيه چه کوچنی د خپلی مور له لاسه ووځی پلار او د ابتدائي مکاتبو معلمانو ته سپارل کيږی تر ځوارلس کلنۍ پوری.
۳: ثانوی تربيه چه هلك په عالی مکاتبو کښې له لويو ښوونکو څخه تحصيل او زده کړه کوی.
۴: تتميمی دوره چه پدې وخت کښې انسان اجتماعی ډګر او د عمل ميدان ته داخليږی، دا دوره د حيات په ختمېدلو باندی تماميږی او بس.

نو څوك چه له خپل اولاد سره مينه او علاقه لری بايد په هره دوره کښې خپل اولاد ښه وروزی او د عمل په لاره ئې د ملت د مصلحت دپاره روان کړی. د کورنۍ تربيې مسئوليت د کورنيو په مشرانو او د اولنۍ او ثانوی تربيې مسئوليت پر حکومت او ملت دواړو باندی دی، چه بايد داسی مدارس او مکاتب پيدا کړی چه حياتی علوم پکښې لوستل کيږی.

د دې کتاب موضوع هغه لمړۍ تربيه ده چه مورنۍ تربيه ورته ويل کيږی. دوهمه او دريمه تربيه د مملکت په داخلی سياست پوری اړه لری. هر کله چه د تربيې علما علم

(c) ketabton.com: The Digital Library

النفس د تربيې اساس ګڼي، او د انساني جامعې د نفسي حالاتو پېژندل د يوه انسان په نفسيت پېژندلو پورې تعلق لري، لازمه ده چه ميندې له علم النفس څخه ښه برخه ولري چه د خپلو اولادو طبيعت وپېژني او استعداد ئې وروزلی شي.

## علم النفس

څوک چه د غړو او اعضاو له وظايفو خبروي، او دې علم د (فزيولوژي) سره اشنا وي هغه ته د اعضای رئيسه ؤ وظايف، د هضم، د زړه ښوريدلو، سږيو ته د هوارسېدل تاثير چه د انسان په حيات کښې ئې لري دا ټول کيفيتونه معلوم وي مګر دا پوهنه او دا علم سطحي او قاصر بلل کېږي ځکه چه انسان يوازې د دې ظاهري جسم نوم ندی، انسان د يوه معنوي شي لرونکی هم دی چه هغه د شعور، علم او فکر آله ده او عقل ورته ويل کېږي.
انسان لکه چه د خپل جسم روزنه او تربيه کولی شي د عقل په روزلو او پاللو هم قادر دی چه لمړی ځل پخپلو هغو معلوماتو کښې چه د ده عقل ورسره اشنا دی ښه غور او دقت وکړي او وروسته خپل معلومات مرتب او زيات کړي ترڅو چه هغه علم ته چه په عقل کښې بحث کوي او علم النفس ورته وايي ورسېږي. لدې بيانه ښه معلومه شوې وي چه علم النفس په ټولو نفسي مظاهرو او حرکاتو کښې بحث کوي.

## خاطر

يوه ورځ يوه زده کوونکی په امتحان کښې چلول کاوه ښوونکی ورته په قهر شو او يو ساعت ئې له خپل مشغوليت څخه ايسار کړ، او تر قيد لاندې ئې ونيو، لږ شېبه وروسته د متعلم رنګ ژيړ او بيهوښه شو، شعور ترې لاړ، او د عقل حرکات ئې بند شوه چه نه ئې څه ليدل او نه ئې څه اورېدل، نو ښوونکی ازادی او خلاصی هوا ته واېست او په مخ ئې ورته سړې اوبه وشيندلې، پس لدې د متعلم په اعضأ او بدن کښې نوی حيات وچلېده او حس پکښې رو رو پيدا شو سترګې ئې بېرته وغړولې، او عقل ئې د خپلو وظايفو په ادا کولو شروع وکړه، په زړه کښې ئې د افکارو سلسلې جوړې شوې او خاطر ئې په هغو شيانو چه د ده په زړه کښې ګرزېده مشغول شو. نو د عقل د وظايفو اجرا کولو ته خاطر ويل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره ښځه چه په عقلی امورو پوره نه پوهېږی او تحلیلولی ئې نشی هغه د خپل کوچنی په ذهن کښی څه نشی ځایولی، او نه ئې خاطر او ادراك د ذکاوت او زیرکۍ درجې ته رسولی شی.

## د عقل د روزلو لارې

انسان لکه چه د بل عقل روزی خپل عقل هم روزلی شی.
د عقل د روزلو دپاره دوې طریقې دی چه یوېته ظاهری او بلی ته باطنی وایی. باطنی طریقه چه نسبتاً مشکله ده پدې ډول کېږی چه انسان خپل نفس له ځانه جدا وګڼی او مراقبت ئې وکړی.
ظاهری طریقه دوه قسمه ده یوېته ملاحظه او بلی ته تجربه ویل کېږی. ملاحظه دېته وایی چه سړی د نورو عقلونه، د بعضې علاماتو په واسطه ځانته معلوم کړی او بیا هر وخت چه هغه علامات پخپل ځان کښی ووینی اثر ته یې هم ښه ملتفت شي چه بیا د تطبیقاتو په اثر کښی د نورو احوال او هغه شی چه د هغوی په خاطر کښی ګرزی معلوم کړی شی. دېته فراست وایی چه انسان د دې په واسطه مریض او ضعیف عقلونه هم روزلی شی، او معلم د خپلو شاګردانو عقلی حرکات هم پرې معلومولی شی. تجربه د عقلی حرکاتو او واقعاتو څخه نتایج اخستل دی.

## د عقل وده او اقسام

که میندی د علم النفس څخه معلومات ولری، د خپلو کوچنو په حرکاتو او افکارو پوهېږی، او د خپلو اولادو د مرضو علاج کولی شی.
داسی میندی البته د خپلو زامنو په ذهن کښی شجاعت او د نفس لوړتیا ځایوی، او د لویو خلقو په پوړ کښی ئې دروی. د همدې لامله (مونتینی) وایی چه زموږ د لویو عیبو جراثیم زموږ د طفولیت له زمانې سره متصل دی او زموږ د لویو امورو جلب د میندو او دایی ګانو په لاس کښی دی. د عقل د لوینست او ودی دپاره څلور مراتب دی، که کوچنی ترسمی روزنی لاندی ونیول شی، عقل ئې په هره مرتبه کښی وده کوی او که نو محروم پاتی کېږی، او نوم یې د انسانیت له صفحې بیخی محو کېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لمړۍ مرتبه

کوچنی د خبرو کولو تر وخته: پدې وخت کښې د کوچنی عقل د هر شی د صورت د پېژندلو دپاره مستعد وی، او د شیانو فرق یو له بله تر یوې اندازې پخپل شعور کولی شی، پدې وخت کښې باید دکوچنی له نظره ډېر صورتونه تېر شی، چه دی ورسره اشنا شی.

## دوهمه مرتبه

د خبروکولو له وخته تر بلوغه پوری د عقل دوهمه مرتبه ده چه د تمیز عقل ورته ویل کېږی، د کوچنی عقل پدې وخت کښې د شیانو د تعریف او منافعو تجسس کوی، او غواړی چه په صحیح طو ورته معلوم شی، پدې وخت کښې که طفل هر څومره پوښتنې وکړی ښائی چه ونه تر ټل شی، او نه په وهمی صورتو او ډاروونکو خیالاتو ووېرول شی، چه ډار او خوف ئې په زړه کښې ځای ونه نیسی، پدې وخت کښې ښائی چه هر کوچنې ډېر قهر او شدت هم ونشی، چه ورته عادی او بې تاثیره ښکاره نشی.

## دریمه مرتبه

د عقل دریمه مرتبه د کوچنی د بلوغ او ابلوخوالی له وخته شروع کېږی پدې وخت کښې عقل دوې ملکې پیدا کوی چه یوېته د استحصال او بلی ته د استحضار ملکه وایی، پدې دوره کښې عقل د شیانو منځکښې ارتباط او مناسبت لټوی او د هر شی د پېژندلو او د فایدې معلومولو دپاره هڅه کوی، نو باید کوچنی ته په همدی وخت کښی ښه اداب او ښه سلوك وښودل شی، او له خپلو ملی دودونو او عاداتو سره اشنا شی، چه له خپلو وروڼو او ملګرو سره په مینه، او له مشرانو سره په احترام سلوك وکړی، او د چا زړه آزار نکړی.

ماشوم پدې وخت کښی لکه نیالګی او تربیه لکه اوبه داسی دی، چه نیالګی پرې وده کوی او خوږه میوه نیسی.

پوخ سړی هېڅکله خپل خویونه او عادتونه نه پرېږدی، نو ښائی چه سړی خپل اولاد په همدغه وخت کښی د ښو خیالی او لطیفو قصو په اورولو ښو ښو کاروته راواړوی، او بې لدېنه چه هغه ته صریح امر ونه وشی، باید د حکایاتو په ذریعه او د ترغیب له لاری ښه ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خویونه ئې په دماغ ځای کړه شي، مګر کومې قصې چه له حقیقته لیرې وي، او وقوعې جنبه نلري، لکه د عفریت یا فانوس سحری او داسې نورې قصې هغه باید سړی د خپل اولاد غوږ ته ونه رسوي، چه محض اوهام او هغه امیدونه چه نه عملي کېږي د ده په ذهن کښې ځای ونه نیسي، او لکه بعضې کسان چه د عفریت داېلولو ارمان کوي، او نه ور رسېږي دی هم د دغسې آرزوګانو (چه نه په حیات کښې دخل او نه خارجي وجود لري) په ارمان او سودا کښې پاتې نشي، نن د هر قوم پوهان او پیاوړي اشخاص کوښښ کوي چه دا قسم افکار د نوي نسل ذهن ته ونه رسېږي.

# څلورمه مرتبه

د عقل څلورمه مرتبه د بلوغ له وخته د ځلمیتوب او رشد تر وخته پورې ده، که اولاد په صحیح طور روزل شوي وي، دغه وخت د ده په عقل کښې د سعادت آثار ښکاره کېږي او په جامعه کښې مسعودانه ژوند کولی شي، پدې وخت کښې باید اولاد ته نظري تعلیمونه وشي، او هغه علمونه وروښودل شي چه دی ورته احتیاج لري.

هر کله چه انسان د عقل دا ټول مراتب طی کړي، نو دی په هیئت اجتماعی کښې یوه ګرندی او کاریګر عضو ګڼل کېږي، په ښه سلوك د تحسین وړ ګرزي، او په بدو کارو ملامتېږي، پدې وخت کښې باید انسان د لویو خلقو تاریخ ته رجوع وکړي او د هغوی په احوالو ځان خبر کړي، چه دی هم د هغوی په لار لاړ شي، او پیروی ئې وکړي.

# د بدن روزل

هر کله چه کوچنی پیدا شي او د دنیا هوا پرې ولګېږي قسم قسم حالات پرې راځي، او هر راز عوارض ورته پېښېږي نو ده ته د ولادت له وخته د قوت او رشد تر مهاله ډېر تدابیر په کار دي ترڅو چه دی د ضعف دا ټول مراحل طی کړي، او رشد ته ورسېږي.

نو په میندو لازمه ده چه خپل کوچنی اداره کړي، او په تربیه کښې یې له هره حیثه زیار وکاږي.

پدې موضوع کښې طبیبانو او حکماءٔ کافي بحثونه کړي او د کوچني ټول ضروریات ئې له خوراکه نیولې تر پوشاك او نظافته پورې دا ټول صحی مسایل ئې بیان کړي دي، نو موږ په هماغه بیان اکتفاکوو کنه، د میندو دپاره به مو څه تفصیل کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بدنی ورزش او ریاضت

په جسمی روزنه او روغتیا کښی بدنی ورزشونه او لوبی خورا ډېر اهمیت لری، هر طفل ته د ده له بدنی قوت او عمر سره مناسب یو قسم ورزش ضرور دی.
شیخ ابن سینا پخپل کتاب (قانون) کښی د اطفالو او لویو سړیو له حاله سره مناسب راز راز ورزشونه ښودلی دی. کوم ورزشونه چه نن په متمدنو ملکو کښی جاری دی دا ټول بلکه لا څه زیات زموږ په پخوانیو کتابو کښی بیان شویدی او د هر اندام د قوت او د وینو د جریان دپاره یو مخصوص ورزش ټاکل شوی دی، لکه چه د خولې او وږی ژبې (ژبې) د ورزش دپاره بعضی ثقیل او خفیف آوازونه ایستل او نفس بندول او داسی نور علاجونه ښودل شوی دی چه دا هم په بدنی ورزش کښی حسابېږی.
ابن سینا د دې فصل په خاتمه کښی وایی چه هر انسان ته د ده د بدنی قوت سره مناسب یو قسم ورزش ضرور دی، نو میندی باید خپلو اولادو ته یو مناسب ورزش چه عقلی او بدنی دواړه قوتونه په تناسب سره زیاتوی غوره کړی، چه د ملت دپاره غښتلی افراد شی.

# خپل اولاد څنګه وروزو؟

ډېر پلرونه کوښښ کوی چه خپل اولاد مهذب تربیه کړی او د ملت دپاره ګړندی اشخاص تقدیم کړی، دوی د دې دپاره هر راز فکرونه کړی او په هره لار چه دوی د خپل مطلب د رسېدلو دپاره وسیله ګڼلې تللی دی، مګر کومی نتیجې چه دوی اخستی دی هغه د دوی د خوشحالۍ سبب ندی ګرزېدلی، دوی داسی ځلمیان میدان ته را ایستلی دی چه د علم او ذکاوت لرونکی دی او د رزق د پیدا کولو مینه لری مګر پدې نه پوهېږی چه له ژونده څنګه استفاده کیږی؟ دا ځکه چه زموږ په وطن کښی ښوونه او روزنه په اشخاصو کښی دا طاقت نه پیدا کوی چه د حیات په میدان کښی منډی ووهلی شی نو له پلرو څخه د اولاد د روزنی په باب کښی سمه لار ورکه شوېده.
که موږ د مترقی ملکو ښوونو ته نظر وکړ، په روزنه کښی یوه سمه لار چه زموږ د اولادو سعادت پکښی دی پیدا کوو، او موږ ته دا اطمینان پیدا کیږی چه د رزق د پیدا کولو دپاره ډېری لاری دی که موږ د سعیې او عمل دروازه وټکوو، او له نوکرۍ څنی خپل فکر را وګرزوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورږ باید خپل اولاد آزاد تربیه کړو، او دا خیال له دماغه وباسو چه زموږ اولاد زموږ ملك او مال دی لکه چه فی الحاله دا عقیده لرو. په متمدنو ملکو کښی خلق له خپلو زامنو سره داسی معامله کوی چه هغوی هم د ځان په شان اشخاص ګڼی، او په کارو کښی ئې له ځانه سره شریکوی، چه هغوی هم د ژوندون په کارو او حرکاتو پوره واقف شی، نو زامن ئې هم خپل ځانونه مستقل اشخاص ګڼی، او پخپل نفس پوره اعتماد مومی، چه پخپل مور او پلار هېڅ اتکا نه کوی.
پلار ښائی چه خپل اولاد د مسافری او زیار ایستلو دپاره تربیه کړی صنعتونه او علوم پری زده کړی چه په هر ځای کښی ګذران وکړی شی، پلار باید خپل زوی ته د شجاعت او اقدام درس وکړی او د زیار، صبر، استقامت او ثبات او ټینګار په روح ئې تربیه کړی، نو دغسی زامن په هر ځای کښی ګذران کولی شی او په ژوندون کښی هغو درجو ته رسېږی چه د دوی زړه ئې غواړی.
زموږ اولادونه پس له کوزدې او واده څخه هم لکه کوچنی داسی وی چه موږ پرې وېرېږو، او هېڅ کارته ئې نه وړاندی کوو، او له هر شی ئې محروم پرېږدو.
د متمدنو ملکو پلرونه خپل اولاد ته لاسي صنعتونه ورښئیی او هېڅ صنعت ورته حقیر نه ښکاری، د یوې لویې رتبې والا سړی زوی یا فلاح یا تاجر یا د کوم بل صنعت خاوند کېږی، او هېڅ شرف او منزلت ئې نه کمېږی په دغسی تربیت باندی یو ژوندی ملت عمومی سعادت مومی.
موږ پخپل وطن کښی وینو، څوك چه له یوه ښاره بل ښار ته لاړ شی، د کور خلق ورپسی ژاړی او دی هم پریشانه خوبونه وینی دا ځکه چه دی له خپل پلار او موره بیل شوی دی، او دا ورته ډېر سخت امر معلومېږی په مترقی ممالکو کښی هر څوك د خپل عمل زوی دی، بل پلار یا مور ته اسره نه کوی، په وچه او دریابو کښی سفر کوی او د کاله خلق ئې پدې خوشحاله وی چه دی په کسب او معاش پیدا کولو قدرت لری او خپل ژوند اداره کولی شی.
دا راز اشخاص سعادت ته رسېدلی دی او دنیا ورته لکه جنت له خونده ډکه ښکاری، زموږ اولاد نه برسېره پدې چه عادتونه او تربیه ئې ورانه وی د نا امیدۍ او سستی تخم ئې هم په نفسو کښی کرل کېږی، او د بعضی الفاظو په اثر کښی لکه: قناعت او نور ... چه په یوه بله معنی معرفی شوی دی، د انحطاط او لتۍ لور ته نژدې کېږی، سره لدې چه د اسلام دین مو د همت، عزت او ترقۍ خوا ته بولی، او غواړی چه مسلمانان د مجد او شرف لرونکی وی، ضعیف، بی عزمه او پسك نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګورئ! د اسلام او مسلمانانو په مقابل کښې څومره ملتونه او پادشاهان ذليل شوه ايا دا د قناعت او سستې په اثر کښې وو او که د کوښښ او عمل نتيجه وه؟
بعضې اشخاص وی چه په خلقو کښې بدی بدی قصې چه خلق مايوسيت ته را بولی، نشر وی او له عمل ئې راګرزوی چه بيا په هر شی کښې شګوم نيسی، او جد و جهد ته هيڅ اهميت نه ورکوی، که موږ پدې پوه شو چه خپل اولاد بايد څنګه تربيه کړو، البته زموږ په جامعه کښې به داسې نشريات بې تاثيره شی خصوصاً که زموږ مؤلفين پدې باب کښې خپله وظيفه اجرا کړی.

# کورنی اجتماع

کوم بحثونه چه په کورنۍ، ازدواج، روزنه، او تدبير منزل کښې وشوه زايد او له موضوع څخه خارج نه دی ځکه چه د کورنۍ اصلاح په حقيقت کښې د جامعې اصلاح ده، نو لازمه ده چه د ملت د اصلاح په ليری ليری وسايلو او د ملت په سعادت کښې فکر وشی او راتلونکی حالت يې په نظر کښې ونيول شی.
موږ وينو چه واړه واړه ملتونه د حريت او قانونی حيات خوا ته نژدې کيږی. او هغه لوی اجتماعی تطور چه موږ ئې په شرق کښې آثار وينو، پدې مو خبروی چه حريت، مساوات او د ملتو يو شان تحول به په شرق او غرب کښې عموميت پيدا کړی او ټول به يوی غايې او مقصد ته ورسيږی.
هر ملت که غواړی چه خپل افراد د قانونی ژوندون دپاره تربيه کړی هغه بايد داسې قوانين مقرر کړی چه هره کورنۍ پدې پوه او مجبوره کړی چه موږ بايد په اصلاحی او ضروری امورو کښې لکه د ثروت زياتوالی، د اولاد روزنه، د ازدواج د رسمو او دودونو تعديل او سمون او داسې نور ... يو مجلس ولرو پدې صورت کښې به د مجلس او کورنۍ مشر يوازې پخپله رايه کار نه کوی، هر کار به د ده او د کورنۍ د پوه افرادو په مشوره کيږی، دا راز واړه مجلسونه د يوه لوی مجلس چه هغه د مختلفو شعبو او فرقو حرکات اداره کوی اصل او اساس دی.
هغه کوچنی چه پداسې کورنۍ کښې لږ لوی شی، او سترګی وغړوی او د دې مجلس بحثونه او د هر چا دلايل واوری، نو قانونی فکر او د شوری محبت ئې په زړه کښې پيدا کيږی، او هر وخت چه ځلميتوب ته نژدې شی خپل ځان د هغو کارو دپاره چه سبا ورځ يې تر غاړی کيږی تيار وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر کله چه ملتونه اتحاد او ارتباط ته احتیاج لری او په هر کلی او ښار کښی یوه کورنۍ
له بلی سره روابط لری نو کېدای شی چه د یوه ښار ټولی کورنۍ په ګډه بعضی افراد
منتخب او یو داسی مجلس تشکیل کړی چه د ټولو د مصلحت او نفع دپاره کار وکړی.
پدې صورت کښی هر کلی او ښار خپل اولاد په استقلالی تربیت باندی تربیه کولی شی.

## کورنی تعاون او مرسته

کومی کورنۍ چه د خپل شرف او موجودیت د ساتلو دپاره د شوری او د دغه انتظام
قایمولو محبت لری هغه د همدغه فکر په اثر کښی د (صندوق تعاون) په نامه یو صندوق
ټاکی او د هغې کورنۍ هغه افراد چه د کار او کسب خاوندان وی هره میاشت پکښی
څه پیسې اچوی، چه د عمومی مفاد دپاره د ضرورت په وخت کښی صرف شی.
دغه راز ملت خپل اقتصادی موجودیت ډېر ښه ساتلی شی، دوی کولی شی چه خپلو
افرادو ته لدې صندوق څخه د پور پیسې ورکړی.
هر څومره چه افراد زیاتیږی، او دا سلطه وسعت مونده کوی هماغومره د دې تعاون نفع
او فایده عامیږی.
غرض دا چه کورنۍ ټولنه د عامې ټولنې اساس دی نو باید هر ملت د خپلو کورنیو
اتحاد او مجد د حریت او شوری په اساس بنا کړی دا د کورنیو او ملتو د ارتباط دپاره
یوه لنډه او نژدې لاره ده.

## دوهم باب

## د اجتماع روح

علامه ګوستاولبون پخپل کتاب (روح الاجتماع) کښی د اجتماع هغه روح بیانوی چه د
اروپا د متعلمینو په نفوسو کښی ئې سرایت کړی او د هغو عواملو په اصل او اساس کښی
بحث کوی، چه د جماعتو په پیدا کولو کښی اغیزه لری، دا بحثونه د قام مشرانو او د
ملت واکدارانو ته ډېر مفید او ښه دی. ده پدې کتاب کښی هغه اوهام او خیالات چه د
اجتماع د روح د پیدا کولو وسایل دی ډېر ښه ښودلی، مګر زموږ غرض پدې عنوان
کښی د طبیعی اجتماع روح ده، چه انسانان ئې له وحدت او انفرادیت څنی د شعبو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبايلو تشکيل ته رسولی دی، او قومونه ئې سره لدې چه يو له بله لری پراته دی، او د رنګونو، ژبو، دودونو په اعتبار سره ډېر فرق لری د منافعو مبادلې ته تيار کړی دی.
علامه مونتسکيو پخپل کتاب (اصول النواميس و الشرايع) کښې د اجتماع طبيعی قوانين، يا په بل عبارت د بشری اجتماع روح پر څلورو برخو وېشی:
۱-انسان د فطرت په زمانه کښې چه د پېژندنې قوت ئې درلود، او معارف ئې نه درلوده – دی پدې وخت کښې له هر شی څنې وېرېدی او تښتېدی، هېڅ شی ته به ئې ضرر نه رساوه، دا حال د سلامتی حالت او د انسان لمړی طبعی قانون ؤ.
۲-انسان هغه وخت چه بعضی ضرورياتو ته خپل احتياج حس کړ، سره لدې چه خوف او وېره ورسره وه، د قوت د پيدا کولو دپاره ئې زيار شروع کړه، دا د انسان دوهم طبيعی قانون او ناموس دی.
۳-کوم وخت چه خوف او ډار په خلقو غلبه وکړه، نو دوی يو له بله سره نژدې او وصل شوه، او په منځ کښې ئې عواطف پيدا شوه دا دريم طبعی قانون دی.
۴-انسانان برسېره پدې چه د دوی په مينځکښې عواطف پيدا شوه په پوهنو (معارف) کښې ئی هم برخه واخستله، او اجتماعی ژوندون ته ئې ميل پيدا شو.
دا هغه طبيعی قوانين دی چه د اجتماع روح څنې تشکيلېږی.
کوم وخت چه د قبايلو په مينځکښې اختلاف او دښمنی پيدا شوېده، هرو مرو پکښې عايلوی محبت د ملکری احترام او مراعات هم و، دا عواطف که څه هم په عايله او قبيله کښې محصور و، مګر د دې په اعتبار چه په لمړی مرتبه کښې همدغه د اجتماع روح وه، لوړ منزلت لری.
کوم وخت چه انسان علوم او معارف ومیندل، د اجتماع احاطه لويه شوه، او طبقات پکښې پيدا شوه، د رزق او کسب او کار لاری زياتی شولې، او د شريعت او قضا دايرې ارتی شوې.
دا د اجتماع هغه روح او اساس دی چه له پخوا وخته په تاريخی ملتو کښې ليدل شوی دی. نو په هر اجتماعی عصر کښې (چه کمال ته رسېدلی وی) د حرب او مدافعې وسايل لږ څه کم شوی او د حرفت، زراعت، صناعت او رزق پيدا کولو محبت زيات شوی دی او په همدغه وخت کښې لمړی شعوبی تعاون ته او وروسته اجتماعی ملکرتيا ته احتياج ليدل شوی، او په بشری ټولیو کښې نوی نوی احتياجات او عمرانی تحولات پيدا شوی، چه پدوی کښې ئې په هماغه اندازه چه په کلو او قبايلو کښې د اجتماع روح ترقی کړېده د حرب او تجاوز روح وژلېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملت څه شی دی؟

کوم افراد چه جنسیت، د مملکت جغرافیائی حدودو، دوی یو له بله سره تړلی وی او برسېره پدې چه دوی په عاداتو، اخلاقو او عمومی صفاتو کښی سره شریك وی تاریخ ئې هم یو وی هغو ته ملت ویل کېږی او د ژبې یو والی هم د ملیت ارکان ټینګوی.

د یوه ملت عمومی صفات هغه دی چه د هغه ملت ټولی فرقی او ډلی پکښی شریکی او متحدی وی، او ټول خلق یوه مقصد ته متوجه کوی او فکری او ارادی وحدت پکښی پیدا کوی.

ګوستاولوبون وائی: ماته پخپل سیاحت کښی دا خبره ښخی ښکاره شوه چه هر ملت یو عقلی مزاج لری چه هغه لکه د هغوی تشریحی حواص ثابت او پایدار او له همدغه څخه د ملت افکار، معتقدات، فنون، انتظامات، او شعور پیدا کېږی.

د اجتماع پوهانو دا حقیقت ښخی منلی دی چه د یوه ملت ادبی او عقلی صفات د هغه ملت د تېر وخت خلاصه او د نیکو میراث دی او همدغه شی دی چه د یوه ملت روح او خط مشي ورڅخه تشکیلېږی.

لدېنه دا نتیجه اخستله کېږی چه یوه عمومی روح چه د ملت په ټولو افرادو کښی یو شعور او یو فکر پیدا کوی، او ټول افراد یوې خواته بیائي د یوه ملت په امتیاز او بېلوالی کښی لمړی مقام او زیات اهمیت لری، نو همدغه شی د ټولیو او جماعتونو د حرکت کلی ده، چه د افرادو مقدرات هم پکښی پټ پراته دی. د یوه ملت د وحدت او فکری یو والی دپاره ډېر سببونه موجود دی چه د ملت په روح کښی تاثیر لری:

اول دا چه فرد د جامعې په ډاد بعضی داسی کارو ته اقدام کوی چه په انفرادی حالت کښی ئې هېڅلکه نشی کولی، نو دا یو قوت او زړورتوب دی چه فرد ئې د جماعت په لمن کښی مومی، بله دا چه په انسانانو کښی لکه مقناطیسی کیفیت یو نفسی تاثیر شته چه ټول خلق یوه کار ته را کشوی او د حکایت په طور ئې یوه عمل ته وړاندی کوی، دوی پخپل ځان باندی یو قوت او باعث حس کوی مګر نه پوهېږی چه دا قوت له څه شی پیدا شوی دی، همدغه سبب دی چه په یوه فرد باندی د ده خپل ذاتی مصلحت باعث کېږی چه د جماعت د مصلحت دپاره ځان فدا کړی، نو فرد په اجتماعی حالت کښی بعضې داسی صفات پیدا کوی چه هغه د ده له انفرادی حالت سره ښخی مباینت لری، او دا د هغه نفسی تاثیر نتیجه او فایده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ګوستاولوبون پخپل کتاب (سرتطور الامم) کښې وايي: چه په اول نظر سړی ته د يوه ملت د افرادو په صفاتو کښې اختلاف او مباينت معلومېږی مګر چه سړی ښه ځير شي پوهېږی چه ټول افراد په عمومي نفسي صفاتو کښې سره شريك دی او دغه نفسي صفات لکه هغه جسمي صفات چه دا ملت له بل ملت ځنې بېلوی ثابت او پايدار دی او دغه صفات پښت پر پښت په منظم ډول نوی کېږی.**

# دريم باب

# حکومت

**د حکومت د پيدا کېدلو په کيفيت کښې د فلاسفه و نظريات مختلف دی. (هوبز انګليسی) وايي:**

**چه انسان په اصل يو داسی مخلوق دی چه له هر څه ورته خپل ځان ګران او محبوب دی او هر کار د ځان د فايدې دپاره کوی، مګر سره لدې فطرتاً له ګوشه نيشنۍ او انزا ځنی متنفر دی، نو هر کله چه بشری قبايل هر وخت سره په جګړه اخته وی، او قوی په ضعيف باندی تېر غامې کوی نو انسان مجبور شوی چه د خپلو همنوعانو يوې طايفې ته ځان نژدې کړی او تر سيوری لاندی ئې خپل حقوق وساتی، نو د همدې په اثر کښې حکومت پيدا شو چه يو جماعت د مشترك مفاد او غرض دپاره روان کړی.**

**ژان ژاك روسو وايي:**

**انسان فطرتاً مسعود دی او څومره چه بشری نوعه زياتېږی هغومره د دې سعادت صفائي په خړوالي بدلېږی، نو هر کله چه انسان ته د حيات په لاره کښې هر راز موانع پېښېږی چه دی يوازی هغه له خپلي مخې نشی لری کولی، هرو مرو د اجتماع ضرورت حس کوی او مجبورېږی چه له جماعت سره د اتفاق عقد وکړی او هر فرد د خپلو حقوقو ساتنه اجتماعي هيئت ته وسپاری، نو بنا پدې نظريه يو عمومي مساوات ضرور دی او حاکميت هم د حکومت د اجتماعي هيئت حق دی.**

**اصل حقيقت دا دی چه د حکومت منشا او نظريه يوه ده، او هر ليکونکی په يوه داسی قالب کښې اچولېده چه د ده له خواهش سره برابره ده او دی ئې پر خوا دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې نظریې اصل دا دی چه انسان له انفرادی حالت څنې وتلی او له خپلو همنوعانو سره پدې متفق شوی دی، چه هر فرد د حکومت اجتماعی هیئت ته تابع وی او اجتماعی هیئت به هم د هر فرد حقوق او مصالح ساتی، د همدې په اثر کښی طبیعی قوانین په بشری قوانینو بدل شوه او په افرادو باندی د هیئت اجتماعی له خوا بعضی موجبات مقرر شوه، چه په عوض کښی ئې هیئت اجتماعی هم د افرادو حقوق پخپل ځان ومنل او د یوې معاهدې صورت ئې پیدا کړ چه له یوې خوا حقوق او له بلی خوا واجبات رد او بدل شویدی.

څه چه (هوبز) او (روسو) پدې موضوع کښی ویلی و، هغه ذکر شوه (لوك) خپله نظریه پداسی شان ښکاره کوی چه په اجتماعی هیئت کښی د دوی له خوا پاچا د اجتماعی تړون عاقد دی، چه د افرادو حقوق وساتی.

بعضی کسان دی چه حکومت د خدای پاك له لوری ګڼی او وائی چه دا د نن ورځی حکومت د خدای د خلافت روستنی رنګ دی چه په مرور د زمان یی تحول موندلی دی.

بعضی وائی چه د حکومت منشا او مبدا قوت او غلبه ده.

نو د حکومت په باب کښی د هر چا نظریه مختلفه ده او هر چا یوه نظریه چه ده ته ښه ښکاره شویده خلقو ته ښوولې ده.

مګر صحیح او معقوله نظریه دا ده چه د پلار ګلوی سلطه او اقتدار د حکومت منشا او اساس دی چه وروسته ترینه، هر راز حکومتونه جوړ شوی دی.

نو هر ملت هغه شان حکومت قبول کړی دی چه هغه ئې د اوسېدونکو د تعداد، ثروت، او غرایزو سره موافقت او مناسبت لری څکه چه اقلیمونه د حکومت په طرز کښی پوره دخل لری او وضعی قوانین هم له طبیعت او قومی عاداتو څنې پیدا کېږی.

نو ویلی شو چه د تاریخی حکومت منشا د پلارګلوی سلطه ده چه وروسته د مشر توب په سلطه بدله شوېده او ورو ورو ئې خپله دایره ارته کړېده او د طبیعی حکومت منشا د جماعتونو احتیاج او اړوالی دی یوه داسی اقتدار ته چه د بعضو تجاوزونو او تېرغامیو چه د نورو په حق باندی کېږی مخه ونیسی، او متجاوز خلق له تېری او تجاوزه را وګرزوی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حکومت وظیفه

پدې موضوع کښې بحث کوونکی مختلف نظریات لری، یوه ډله وایی چه فرد تر هغه وخته پوری ترقی نشی کولی ترڅو چه د حریت په میدان کښې په اقتصادی امورو کښې پخپل سر پرې نه ښود شی، پدې صورت کښې نو فرد پخپله ذاتی ترقۍ کښې بې له خپل همته او خپل فکر او عمل ځنې په بل شی اعتماد نه کوی او ټول قوتونه ئې وده کوی.

د دې کسانو په نزد د حکومت وظیفه د وطن حمایت او د داخلی نظام او امنیت ساتنه ده چه د لښکر په لرلو او حاکمانو او قاضیانو په مقررولو باندی کېږی چه ضروری او لازمی قوانین وضع او معمول شی.

دا کسان وائی چه د دنیا نظام د تنازع للبقا – او بقای اصلح په اساس بنا دی او تجارب هم دا وائي چه باید فرد په اقتصادی امورو کښې پخپل سر پرې ښودل شی.

مګر بعضی داسی کارونه شته چه که حکومت پکښې مداخله ونکړی لکه:

د پوستې انتظام، او اجباری تعلیم یا د اوسپنې لار – نو پوره فایده ورځنې نه اخستله کېږی.

ځکه چه دغه اعمال او کارونه چه د عمران او تمدن روح بلل کېږی که افرادو او شرکتونو ته پرېښودل شی نو د سیالۍ او همچشمۍ په اثر کښې له مصلحت او ضرورت ځنې زیات اجرا کېږی.

بله دا کوم وخت چه انسان پخپل خصوصی مصلحت مشغول شی نو د اطفالو او ضعیفانو حمایت او د فقیرانو معاونت ته نه ملتفت کېږی، نو ضرور ده چه حکومت په دغسی کارو کښې مداخلت وکړی.

ځنې خلق وایی چه فرد د نورو مرستی او ملګرتیا ته اړ دی او دغه مرسته بې له حکومت څخه د بل چا له لاسه په ښه شان پوره نه ده، نو باید حکومت ټول اقتصادی امور لکه صنایع او زراعتونه په خپل لاس کښې ونیسی، ځنې فیلسوفان لکه ټولستوی بیا وایی: چه حکومت ته بیخې ضرورت نشته او د مال صرفول د حربي آلاتو او عسکری تنظیم دپاره له صحیح انسانیت سره منافی دی، دی وائي چه حکومت له فطرت او طبیعت ځنې مخالف یو شی دی او ملتونه هغه وخت انتهائی سعادت ته رسېږی چه حکومت بیخی د خلقو هیر شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا درې مذهبه، هېڅ يو له افراط او تفريط څنې خالی نه دی او همدغه سبب دی چه خلقو پوره نه دی غوره کړی او اکثرو مترقی ملتونو د خپل نظام اساس په معتدل ډول بنا کړی دی، او د حکومت مداخله ئې د افرادو په شئوناتو کښی څومره چه ضرور دی لکه:

د ضعيفانو حمايت، د شفاخانو جوړول، د کسبګرو د مصالحو دپاره قوانين وضع کول، د کرهڼی، تجارت، صنعت د لوړتيا وسايل تهولول، د حمل و نقل بری او بحری وسايل لکه: د اوسپنی لار، برېښنا، تلګراف، او د اخلاقو او دين ساتنه او داسی نور تهيه کول قبوله کړېده.

د ټولستوی او فيلسوفانو فکر يو محض خيال دی چه عملی کېدی نشی ځکه چه ټول خلق لکه ټولستوی فيلسفوان کېدی نشی چه هر سړی له ټګی، خيانت او شر څنې ځان خلاص کړی شی او صحيح انسانيت په دنيا کښی وچلېږی.

دا هغه نظريات دی چه اجتماعيونو د حکومت د وظېفی په باب کښی ښکاره کړی او د حکومت د مداخلی حق يې د خلقو په شئونو کښی ښکاره کړيدی مګرهر حکومت ځانته له احتياجه سره سم نصب العين او غايه لری چه د هغې په مقتضا کار کوی، او په هر ډول چه قوم او ملت لوړېږی، او وطن ودانېږی، لوړوی او ودانوی ئې!

د هر ملت سياسی تربيت د افرادو په نفسياتو او ذهنيت کښی پوره دخل لری او تعليمات هم د همدغې تربيتې له مقتضی سره برابروی. کوم ملت چه د هيئت اجتماعی احترام لری د هغه ملت هر فرد يې له يوه قوت او باعث څخه د نورو د حريت احترام ساتی، او هېڅکله خپل حکومت ته د خوف په سترګه نه ګوری. بلکه د احترام او خلوص په نظر ورته ګوری ځکه چه هغه د سلطنت تاج عيناً د ملت تاج ګڼی چه پخپل لاس ئې د خپل مشر او پاچا په سر ايښی دی، نو دوی د دغه تاج او خپل قانون پوره احترام لری او هميشه ورته د محبت په سترګه ګوری.

هغه کسان چه د پردی حکومت تر لاس لاندی ژوند کوی هغوی ته د حکومت هر رِغ لکه آسمانی ټکه داسی ښکاره کېږی او هر کار چه په حکومت پوری ربط لری ورځنی ډېده کوی مګر د ملت د خواخوږی او خپل او ملی حکومت.ښه او سياسی روزنه دغه راز اوهام محدود کوی او خلق پدې باندی پوهوی، چه هر فرد د حکومت په کارو کښی د معاونت حق لری او د حکومت اشخاص هم دغسی افراد دی لکه دا نور خلق چه د قانون په مقتضیٰ او د ملت په مرضا حکم کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حکومت په باب کښی د پخوانیو نظریه

ارسطو وائي که عدل او مساوات ورك او یا ضعیف وی څنګه به یو قوم د سعادت ژوندون وکړی؟ او څنګه به ټيټ جمعیتونه او واړه طوایف نهضت مونده کړی؟ نو د ده په نظریه باید په هر مملکت کښی عدل قایم وی او ټول کارونه د حکمت په مقتضا اجرا شی.

کونفوشیوس چینی وائی کوم حکومت چه پخپل مملکت کښی د عدل او کفائت له مخی حکم کوی هغه لکه د قطب ستوری داسی دی چه همیشه ځای په ځای وی او نور ستوری ئې پخوا کښی خپل ځایونه بدلوی او انتقال کوی.

ملك١[3] شیانغ وایی: د اسمان زوی یا امپراطور د مملکت د خیر او فایدې دپاره پیدا شوی او مملکت د امپراطور دپاره نه دی پیدا شوی.

په چین کښی دا متل دی چه د ملت محبت پیدا کړه مملکت به پیدا کړی، او که دغه محبت ورك کړې نو مملکت به درڅخه ورك شی.

له (سولون) یونانی څخه پوښتنه وشوه چه کوم مملکت د مدنیت لوړی درجی ته رسېدلی دی؟ هغه وویل هغه مملکت چه اهل ئې په ذلت کښی نه وی او ظلم پرې باندی نه کېږی.بلکه لا د یوه بل قوم په مظلومیت هم نشی راضی کېدی او ورسره داسی مرسته کوی لکه چه هغه ظلم عیناً په دوی کېږی.

له (کسری) ځنی پوښتنه وشوه چه کوم پادشاه ښه دی ده وویل: هغه پادشاه ښه دی چه د قهر او غصب په وخت کښی کریم وي، او پخپله وعده وفا کوی که څه هم لویه وعده وی. ارسطو طالیس ویلی کوم پادشاه چه عدل کوی هغه شجاعت یعنی لښکر ته نه محتاج کېږی.

# د حکومت په باب کښی د پخوانیو مصریانو نظریه

د مصریانو له پخوا وخت ځنی (یعنی پخوا له اسلامه) دا رایه ده چه پادشاه پخپل حکومت او عدل چلولو کښی شوری ته محتاج دی، چه له خپل حکومت سره هر راز مرسته وکړی چه د همدی لامله علما او حکیمان او د رایی خاوندان د حکومت د امورو

---

١[3] دا د چینایانو او جاپانیانو عقیده ده چه هغوی خپل امپراطور د اسمان زوی ګڼی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ترتیبولو دپاره مقرر وی، او پخپل سیاست او د مشکلاتو په حلولو کښی په دوی اعتماد کوی.

کله به چه د مصریانو پادشاه مړ شو نو دوی به ئی مړی د قبر په څنګ کښی کښېښود، خطیبان، او د مجلس شوری اعضا به ودرېدل د ده په ټولو کارو به ئې تبصره کوله، د ده عدل یا ظلم خیر یا شر ټول صفات به یی بیانول پس له هغه به د ټول جمعیت رایه د ده په باب کښی غوښتله کېده چه ایا دی په احترام او تعظیم ښخ شی او که په معمولی طور په قبر کښې کېښود شی.

دی پخوانی دود د پادشاهانو په ښه سلوك او عدل کولو کښی ډېر تاثیر درلود، او دوی یی مجبورل چه د اهل رایو په مشوره کار وکړی، د مصر په تاریخ کښی لیدل کیږی چه ډېر فرعونان د ظلم او بد روش په سبب د ملوکیت له القابو محروم شوی دی.

نو د مصر پخوانیو شوراؤ یو حقیقی صورت درلود او یوازی علما او حکیمان او دینی مشران به پکښی نه وو د اقلیمونو او سمتونو نوابان او مشران به هم پکښی شامل وو، چه لدی ټولو څخه به یو عمومی جمعیت تشکیل کېده چه په لویو او مهمو کارو کښی لکه: حرب یا صلح، د قوانینو اړول، د حاکمانو درول یا داسی نورو کارو کښی به دوی پرېکړه کوله څوك چه د مصر پخوانی سیاست او اجتماعی نظام ته مراجعت وکړی هغه ته به د مصر دغه څه مفاخر او معالی چه لری د تعجب وړ ښکاره نشی.

## حکومت د اسلام په نظر کښی

اسلام د خپلو تعلیمونو د انتشار په مرسته په اجتماعیاتو، سیاسیاتو او مدنیتونو کښی ډېره غوره اغېزه کړېده، لکه چه تاریخ ئې هم په دلچسپی سره ذکر کوی.

مګر دلته زموږ غرض دا نه دی چه د اسلامی ملت د تحول سر بیان کړو یا د دوی په هغه صحیح او متین مدنیت چه تر نیمی دنیا پوری ورسېده، څه بحث وکړو، ځکه چه ډېرو انصاف لرونکو مؤرخینو شرقییونو او مستشرقینو دواړو ډلو دا موضوع ښه واضحه کړېده.

زموږ غرض یوازی همدغومره دی چه په اسلام کښی حکومت په کوم اساس ولاړ دی او کومو عواملو د اسلام مدنیت ته تراندلس او چین پوری لاره ورکړه.

په اسلام کښی د حکومت اساس په شوری او د مسلمانانو د جمعیت په رایه بنا دی، په اسلام کښی خلیفه لکه یو مقید پادشاه داسی دی او کوم قانون چه دی مقید کوی هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای کتاب او د رسول (ص) اقوال دی. په اسلام کښی خلافت په میراث له یوه ځنی بل ته نه نقل کېږی. چه له پلروځنی زامنو ته او له زامنو ځنی لمسیانو ته ورسېږی.
ځکه چه خلافت په عمومی انتخاب ټکل کېږی او د خدای او رسول په اطاعت او عدل ساتل کېږی لکه چه د خلیفه په حق کښی ویل شوی چه که له عدل او د خدای او رسول له اطاعت څخه یی بلی خواته میل وکړنو ولاړیی کړئ. او که د خپلو شهواتو په میدان کښی خپل جلب بیخی خوشی کړی نو معزول یی کړئ.
نو دا هغه اساسی قواعد دي چه اسلامی حکومت پری قایم دی او همدغه سبب دی چه ملت د حکومت په مقابل کښی ځان جاهل او بی خبر نه ګڼي. او هر فرد دا تصور کوی چه خلیفه هم بشر دی چه کله سهو کېږی او کله حق ته رسېږی نو باید هر مسلم او عالم حاکم ته نصیحت وکړی او ورته وویلی شی چه ته له عدل نه بل لور ته کوږ شوی یی.
د همدی لامله اجتهاد هم په مجتهدینو یعنو هغو اشاخاصو پوری خاص دی چه د عربی لغاتو له اصولو خبر وی او په دینی علومو کښی بصیرت لری او له قرآن کریم او احادیثو څخه احکام اېستلی او حق او باطل، صحیح او فاسد سره بېلولی شی، خلیفه ګانو ته د محض خلافت په سبب دا حق نه دی ورکړ شوی.
دغه راز عقاید چه په یوه قوم کښی راسخ او ټینګ شی هغه هېڅکله د هغه چا په مخ کښی چه دوی د حاکمیت دپاره غوره کړی خپل سر نه ټیتوی تر څو چه هغه د عدل پابند او د خدای او رسول تابع نه وی.
نو په دغه صورت کښی پاچا له خپل ملت سره داسی سلوك کوی لکه چه یو مهربان پلار ئې له خپلو زامنو سره کوی او ملت هم خلیفه او پاچا ته د محبت او احترام په سترګه ګوری نه د خوف او ډار په سترګه.
دغه و د حکومت او ملت لنډ حال په اسلام کښی، وروسته چه عربی سلطه پراخه شوه او د اسلام لاس شام و عراق، فارس، مصر، طرابلس، تونس، الجزایر او د فرانسی جنوب غربی لور ته ورسېده نو فیلسوفان او علماٌ د مملکت تنظیمی امورو او قوانینو وضع کولو ته توجه وکړه او د وزیرانو، مشرانو او ملکی او عسکری مامورینو وظایف ئې په داسی شان تعین کړه چه تر اوسه چا پکښی څه ندی ویلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ملت د مشرانو صفات

پدې صفاتو کښې حکیمانو، سیاسیونو او اجتماعیونو ټولو بحث کړی او د مشرتوب دپاره ئې ډېر داسې شرطونه چه د ملت په نفع تمامېږی او مشرتوب ورباندې ټکل کېږی ښودلی دی.

پدې موضوع کښې کومه ښه رایه چه میدان ته راوتلې ده د ابونصر فارابی نظریه ده چه پخپل کتاب (ارا٫ اهل المدینة الفاضله) کښې ئې ښکاره کړېده، دی وایی چه د ملت دمشرانو دپاره دا صفات ضرور دی:

۱: د عضاوو پوره والی
۲: پوهه او سنجش
۳: د حافظې ښه والی
۴: زړه سوی او عاطفه
۵: فصاحت
۶: د زده کړی (عرفانی) شوق
۷: په شهواتو او خواهشاتو کښې اعتدال
۸: لوړ همتی (کبر النفس)
۹: له رښتیا او رښتیا ویونکو سره محبت لرل
۱۰:د دنیا متاع ته په کمه سترګه کتل
۱۱: له عدل او د عدل خاوندانو سره مینه
۱۲: د عزم او ارادې ټینګوالی

فاریابي د دې شرطونو له بیانه وروسته ویلي دي چه که د دې ټولو صفاتو خاوند پیدا نشي نو بیا د ریاست او مشر توب وړ هغه څوك دیچه پخپل شریعت ټینګ او ښه هوښیار وي او که دغه شرطونه په څو کسو کښې د تقسیم په ډول وی او دوی ټول پخپل منځکښې متحد کیږي نو دوی ټول باید مشران او رئیسان وی.

او هر کله که یو ښار له حکمت څخه حالی شي او دغه شرطونه په رئیسانو کښې مختل شي د هلاك معرض ګرزي.

ابن خلدون ویلی چه د دغه منصب وړ هغه څوك دی چه دا لاندینی څلور صفتونه لری:

۱: علم ۲: عدالت ۳: کفایت ۴: د حواسو سلامتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عربو په نزد د مملکت ارکان

د عربو سیاسیونو چه د خپل ملت اصلاح او انتظام، سعادت، امن او عدالت په نظر کښی نیولی، نو د مملکت دپاره ئې څلور رکنه مقرر کړیدی. چه هغه دا دی:
ټولواك -، رعیت -، عدل -، تدبیر -، چه دغه هر رکن ته په یوه خاصه نظر ګوری او بعضی ملحوظات پکښی لټوی.
علامه شهاب الدین چه په سیاسیاتو کښی یو پوه عالم و هغه ویلی دی چه ښه پاچا پر ځان حاکمیت لری او له بدو خواهشاتو څنی خپل ځان ژغوری او بله دا چه د خپل مملکت له احواله خبر او پخپلو ظایفو کښی جدی وی، د همسایه ممالکو له احواله هم خبر وی او خپل سرحدونه هم په یوه قوی عسکر چه وسله او تو ښه او ذخایر ورسره زیات وی ټینګکو دی.
خپل عسکر او منصبداران ښه ساتی او پخپل ملك کښی هر راز مواد پیدا او تعمیرات زیاتوی او خپل رعیت داسی ګڼی لکه زامن او ورونه، او هر کله ئې د لوړتیا، او سمون او بډایي او ښیګړو په فکر کښی وی!

# رعیت

رعیت چه په څو قسمونو لکه: د کلو اوسېدونکی، د ښارو آبادوونکی، جنګ کوونکی، او علماء او پوهانو وېشل کېږی.
دا ټول له درې عنوانو لاندی راځی: اخیار او افاضل یعنی ښه او پوه خلق، اشرار او اراذل یعنی بدان او پایلاتی خلق، متوسطین یعنی منځنۍ ډله.
چه باید له هرې طبقې څخه کار واخستل شی یعنی له علما او پوهانو څنی عرفانی او علمی خدمت، او له کسبګرو او زارعینو څخه اقتصادی خدمت وغوښتل شی او حربی اشخاص په عسکری امورو مشغول کړه شی، او هېڅوك وزګار پاتی نشی چه ټوله د ملت ډلی د وطن په خدمت بخت وی!
او د خپل حکومت سره په هره چاره کښی مرسته کوی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عدل

پوهان پدې پوهېدلی دی چه د حکومت غرض د ظلم او تعدی ورکول او د عدل او مساوات قایمول دی، نو علامه شهاب الدین د عدل دپاره دا درې رکنه مقرر کړی:

۱: د لوی خدای حقوق ساتل.

۲: انسانی حقوق یو له بله محافظه کول.

۳: د اسلافو او پخوانیو د حقوقو مراعات کول.

د دې درې قسموتر تفصیل لاندې د مملکت ټول امور داخلیږی او هر څه پکښی راځی، چه عمران او آبادی هم ضمناً د عدل تر عنوان لاندی داخلیږی.

# عمرانات او ودانی

د مملکت ودانی دوې جنبې لری چه یوه زراعتی او بله تعمیری او ودانۍ جنبه ده!

د زراعت د ترقۍ او حمایت دپاره دا دوه شیه ضرور دی چه باید حکومت ورته توجه وکړی لکه د اوبو زیاتول، د لارو جوړول، د دهقانانو حمایت کول، په مالیه کې تخفیف کول، ترڅو چه دهقانان له زراعت څخه زړه توری نشی او بل کسب ته زړه ښه نکړی.

د ودانیو په جوړولو کښی باید د دې لاندی شرطو مراعات وشی.

۱:د ښوو اوبو زیاتوالی.

۲: د ځای ښه والی او د هوا اعتدال.

۳: د ارشو او لرګو نزدېوالی.

۴: د ځای موقعیت د امنیت په لحاظ.

برسېره پدې شرطونو څه نور شرطونه هم شته چه باید مراعات ئې وشی لکه: د کوڅو د خطونو معلومول د هر ډول بازار د پاره ځای ټاکل، د ضرورت په اندازه د علم او صنعت خاوندانو ته ځای ورکول او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تدبیر او اداره

**غرض له تدبیر د مملکت د امورو انتظام دی لکه: د وزارتو تشکیلول، د والیانو او حاکمانو ټاکل او وروسته لدېنه د قاضیانو او منصبدارانو تعینول، لیکن پدې ټولو کښې باید د مملکت د بهبود مراعات وشي مثلاً هر ځای ته داسی قاضی او مامور مقرر شی چه د وقار او تقوی لرونکی وی.**

**او برسېره پدې چه باید پوه او عالم وی د حکومت په ضروریاتو او د قضا په ادابو دی هم پوهېږی، په حکم کښی دی بیړه نه کوی، او ښه تحقیق دی کوی، نه دی هدیه قبلوی او نه دی د چا شفاعت ته غوږ نیسي، د حکومت مامور باید په قانون پابند، او د وطن محب او صادق او د ملت خواخوږی وی، خپل اغراض د حکومت په چارو کښ نکړی، او له رشوت او خیانت څخه ځان وژغوری!**

**پای**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**